بسم الله الرحمن الرحيم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ

د عيد ميلاد نبي ﷺ يو مختصر او له تعصبه خلاص تحقيق

ترتيب: عبدالسلام حنفي

مقدمه

رب يسر ولا تعسر

الحمد لله رب العالمين وصلى الله على نبينا محمد وعلى آله وأصحابه أجمعين وبعد . نن صبا دا مسئله د علماؤو په مابين کې يو د جنجال وسيله جوړه شوى ده ، څوک وايي چې دا ضرور ده چې ولمانځل شي ، اونور بيا وايي چې نه دا کارهيڅ ده کولو وړکارنه دي.

او دواړه طرفونه څه ناڅه دلائل هم وړاندې کوي . نو اوس دا په کار ده چې دواړه طرفونه له تعصب څخه تيرشي .اوله انصافه کارواخلئ څو چې د الله ﷻ په حضورکې د خپل علم له بدوعواقبو سره مخامخ نه شي.

او دا هم يو حقيقت دي ، چې په کتابونو کې دا خبره هم شته چې دا ورځ بايد ولمانځل شئ ، اوداهم شته چې داعمل بدعت دي . بايد چې دږه ځيني وشئ ، نواوس موږ ته دا پکار ده چې د دواړوطرفونو د کتابونوعبارت را نقل کړو، اوبيا د دواړوطرفونو پر دلائلو نظر وکړو څوچې دامعلومه شي چې د چا قول قابل القبول اود چا قول قابل الرد دي ،

که چيرې يوڅوک پخپله د دې وړتيا ولري چې قابل القبول اوقابل الرد خبرې سره وپيژنى خو ډيره ښه ده ، او که نه نوبيا دې له حق پرست علماؤو سره مشوره شريکه کړئ ، ځکه چې د يومشروع شى ردَوَلْ ، اوياغيرمشروع ته مشروع ويل دا دواړه جرم دى، نوهر يوعالم ته دا په کارده چې له داسې جرم څخه خپلې ورې سپکې کړي،

نواوس به موږ ان شاء الله تعالى اول د هغوعلماؤو تحقيقات رانقل کړو چې هغوى ددې ورځې لمانځل رد کړي دي ، اوداکارئې بدعت منکربللى دي ، او بيابه د هغوعلماؤو

قول رانقل کړو چې دا عمل ئې جائزنه بلکه مستحب بللي دي اوبيا نوانصاف پرتاسودئ ، والسلام

اول عالم چې دا کارممنوع بولي :

خو تر ټولو اول به موږ د مفتی محمد شفيع رحمه الله هغه تحقيق رانقل کړو چې هغه په خپل مشهورتفسير معارف القران کې تردې أيت لاندې راوړي دي :﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا﴾،

اوهغه هلته په دويم جلد پاره (٦) صفحه (٦١) کې بعد له هغه څه چې د ايت کريمه نورتحقيق ئې نقل کړی دي ، اوبيا ئې د حضرت عمر ﷺ جواب هم د يو يهودی د يو مشهورسؤال په رابطه ذکرکړي دي ،نوده هلته داسې ليکلي دي :

لنډه داده چې دَ حضرت فاروق اعظم ﷺ له دې جواب څخه دامعلومه سوه چې د يهودو اونصارا وو په شان زموږ اخترونه د تاريخي واقعاتوتابع نه دي چې پرکم تاريخ کمه مهمه واقعه سوي ده ، له هغې موږ اختر جوړکړو ، لکه چې د جاهليت رواج وو، اود نن صبا جاهليت دا نور هم زيات خپورکړي دي ، تردې حده چې د نورو قومونو څخه ئې نقل کړي دي ،مسلمانان هم په دې کې اخته شول ، عيسايان دَ حضرت عيسی عليه السلام دَ پيدايښت دَ ورځې اخترجوړوي نو مسلمانانو هم له دوی څخه نقل وکړئ ، اودَ نبي کريم صلي الله عليه وسلم دَ پيدايښت په ورځ باندې يې دَ عيد ميلاد النبي صلي الله عليه وسلم په نامه سره عيد ميلاد جوړ کړی ، په دې ورځ په بازارونو کې جلسونه را باسي او قسم قسم خرافات پکښې کوي او دَ شپې چراغان لګوي ، اودا هرڅه عبادت ګڼي ،چې ددې هيڅ اصل دَ اصحابو او تابعينو او دَاُمت دَ نورو مشرانو په عمل کې نه پيدا کيږي ،

دا خو دَ حضرت مفتي صاحب رحمه الله دَ تحقيق يوه برخه موږ دَ نمونې په شکل را نقل کړي ،خود دې تحقيق دَ جلد او صفحې شماره موږ له مخه ليکلې ده ،نو تاسې

کولای شي چې دَ خپل پوره معلوماتو دَ پاره نوموړي تفسیر ته رجوع وکړئ څو چې موضوع په هر اړخیز ډول درته روښانه شي ،اوبیا به خپل قضاوت پخپله وکړئ.

دویم عالم چې دا کار بدعت بولي

او اوس به دَ علامة ابن الحاج المالکي دَ المدخل دَ سر اوبیا دَ هغه پای وګورو، چې څه ځینی معلومیږي چې هغه دَ خپل کتاب المدخل په صفحه (٢٦١) کې تردې عنوان لاندې داسې لیکلي دي.

الموسم الثالث من المواسم التی ینسبونها الی الشرع ولیست منه ،[فصل فی المولد]ومن جملة ما احدثوه من البدع مع اعتقادهم اَنّ ذلک من اکبرالعبادات ، واظهار الشعائر ما یفعلونه فی شهر ربیع الاول من المولد ، وقد احتوی علی بدع ومحرمات جملة اهـ

نو اوس دا دده د تحقیق سر دي ،اوبیا یې د خپل دې مفصل تحقیق په یوه بله برخه کې وروسته له دې چې د دې رسم یو څه مفاسد ذکرکړي دي او داسې لیکلي دي :فانا لله وانا الیه راجعون علی عدم الاستحیاء من عمل الذنوب یعملون اعمال الشیطان ویطلبون الاجرمن رب العلمین ویزعمون انهم فی تعبد وخیر، ویا لیت لو کان یفعله ذلک سفلة الناس ، ولکن قد عمت البلوی ؛ فتجد بعض من ینسب الی شیئ من العلم او العمل یفعله ، وکذلک بعض من ینسب الی المشیخة اعنی في تربیة المریدین ،وکل اولئک داخلون فیما ذکر .اهـ

اوبیا وروسته له دې چې یوڅه نورمفاسد هم د دې عمل ذکرکړی دئ، اوپه اخیرکې داسې وایي . (وهذه المفاسد مرتبة علی فعل المولد اذا عمل بالسماع ،فانْ خلا منه وعمل طعاماً فقط ، ونوی به المولد ودعا الیه الاخوان ، وسلم من کل ما تقدم ذکره فهو بدعة بنفس نیته فقط اذ اَنّ ذلک زیادة فی الدین ولیس من اعمال السلف الماضیین ، واتباع السلف اولی ، بل اوجب من اَنْ یزید نیة مخالفة لما کانوا علیه لانهم اشد الناس اتباعاً لرسول الله صلي الله علیه وسلم ، وتعظیماً له ولسنته صلي الله

عليه وسلم ، ولهم قدم السبق فى المبادرة الى ذلک ولم ينقل عن احد منهم انه نوى المولد ، ونحن لهم تبع فيسعنا ما يسعهم ، وقدعلم آنّ اتباعهم فى المصادر والموارد كماقال الشيخ الامام ابوطالب المكي رحمه الله تعالى فى كتابه وقدجاء فى الخبر . لاتقوم الساعة حتى تصيرالمعروف منكراً والمنكرمعروفاً . انتهى ،

وقد وقع ماقاله صلي الله عليه وسلم بسبب ماتقدم ذكره وما سياتي بعد لانهم يعتقدون انهم فى طاعة ، ومن لايعمل عملهم يرون انه مقصر بخيل فانا لله وانا اليه راجعون .

دا خو مختصرعبارات دَ المدخل موږ نقل کړو ، اونور هم چې کومې خبرې د ده له عبارت سره تعلق لري هغه به هم ان شاء الله تعالى موږ په خپل ځاى کې را نقل کړو .

او دريم له هغو عُلَما ؤو چې دا عمل ئې مردود بللى دي :

هغه شيخ الحديث مولانا عبدالحق صاحب چې فتاوى حقانيه ئې ليکلى دي ، اوله هغه څخه دَ استفتاء په طريقې سره سؤال شوي دي : چې څه فرمايي دَ دين علماء اود حنفى مذهب مفتيان کرام د دې مسئلې په باره کې چې نن صبا د ميلاد شريف ترنامه لاندې د وعظ او نصيحت مجالس منعقد کيږي ،اوپه هغه کې علماء کرام د کتاب الله اوسنت الرسول صلي الله عليه وسلم د سنتو په رڼا کښې د ترغيب او ترهيب مسائل وړاندې کوي ، اونعت خوانان او شاعران پخپلو منظومو کلامونوکې د توحيد رسالت ختم نبوت حُب على الاطاعة او داسې نور بهترين مضامين بيانوي ،نو ايا په داسې تقريباتوکې دَ علماء کرامو اوعامو مسلمانانودَ پاره شرکت کول جائزدي اوکه څنګه ؟

زيد د دې خبرې قائل دي چې د داسې مجلسونو او اجتماعاتو جوړول بدعت اوضلالت دي

اوشريکيدل پکښې ترزنا ، قمار، شراب خوري ، اوقتل وغارت څخه هم لويه ګناه ده ، ځکه چې په خيرالقرون کې دا ډول اجتماعات نه وُو . نو دَ زيد دا عقيده صحيح ده اوکه

نه ؟ که چیرته صحیح نه وي نو د دې دَ پاره په تفصیل سره تعزیروفرمایي او دَ دارینو اجرحاصل کړئ.دا سؤال فقرې دي .

اوس جواب وګورئ: الجواب باسم ملهم الصواب : زموږ په نزد د محققینوعلماؤو دَ تصریحاتو مطابق دَ عید میلاد النبی تر نامه لاندې چې کوم مجلسونه منعقد کیږي ، او کوم ته چې دَ نن صبا علماء او جهلاء له ټولو څخه بهترین عبادت او کارخیر وایی _ دا بد ترین ډول بدعت دي . چې نه صحابه وو کړی دي ، اونه تابعینو ، او نه په خیرالقرون کې ورته څه اصل سته .

د دې رسم او بدعت پس منظر داسې دي چې دَ اسلامی تاریخ په ابتدائي شپږو پیړیوکې یې هیڅ رواج نه وو ، نه کوم صحابی رواج کړی دي ، اونه کوم تابعی نه کوم محدث اونه کوم فقیه ، بزرګ او نه کوم ولی الله ، دا بدعت چې یې ایجاد کړی ده هغه یومسرف بادشاه اودَ هغه یو دنیا پرسته مولوی په سنه (٦٠٤) هـ کښ دَ موصل په ښارکی دَ مظفرالدین کوکری په حکم سره ایجاد کړ چې نوموړي یو مسرف بادشاه اوله دین څخه بې پروا سړی وو (ابن خلکان)

کان ملکاً مسرفاً یامر علماء زمانه اَنْ یعملوا باستنباطهم واجتهادهم ، واَنْ لا یتبعوا مذهب غیرهم حتی مالت الیه جماعة من العلماء ، وطائفة من الفضلاء ، ویحتفل بمولد النبی صلي الله علیه وسلم في الربیع الاول .وهواول من احدث من الملوک هذا العمل [القول المعتمد فی عمل المولد]

اوکوم دنیا پرسته مولوي چې د دې دَ جواز دپاره ئې مواد جمع کړي وو دَ هغه نوم عمرو بن داحیة ابوخطاب وو ، حافظ ابن الحجرالعسقلانی رحمه الله ئې په اړه لیکلي دي .

کان کثیرالوقیعة فی الا ئمة وفی السلف من العلماء خبیث اللسان احمق شدید الکبر قلیل النظرفی امورالدین متهاوناً [لسان المیزان ج (٤) ص (١٩٦)] دغو دواړو مبتدعینو په ګډه سره دغه بدعت ایجاد کړ،

او له هغه څخه وروسته له علماء حق څخه شیخ الاسلام ابن تیمیة په خپله فتاوی ج (۱) ص (۳۱۲) کې ، او امام نصیرالدین الشافعی په ارشاد الاختیار ص (۲۰) ،او حضرت امام مجدد الف ثانی رحمه الله په مکتوبات ج (۵) ص (۲۲) کښې ،اوعلامه ابن الحاج المالکی په المدخل کې [لکه موږ چې په مخ کې دده دکتاب عبارات رانقل کړو]

علامه عبدالرحمن په خپله فتاوی کې وائي : اِنّ عمل المولد بدعة لم یقل به ولم یفعله رسول الله صلي الله علیه وسلم ولا الخلفاء ولا الا ئمة ای ائمة المذاهب الاربعة ، علامه احمد بن محمد المصری المالکی لیکلي دي : اتفق علماء المذاهب الاربعة بذم ها العمل ،

هغه څه چې شیخ رحمه الله دَ میلاد په رابطه لیکلي وو. په مختصر ډول موږ رانقل کړو دَ پوره تحقیق دپاره باید فتاوی حقانیه ج اول ص (٥٤٧) تر ص (٥٥٠).وکتل شئ ،

او څلورم هغه څو ک چې دا عمل ئې ممنوع بللی دي :

او اوس به موږ ان شاء الله دَ امام رباني رحمه الله دَ مکتوبات عبارت را نقل کړو چې یوڅه اشاره په مخ کې هم ورته وشوه ، اود هلته داسې لیکلي دي :

تاته لیکلی شوی وو ، چې دَ سماع دَمنع کیدو مبالغه دَ مولود منع کیدو له هم شامله ده چې له نعتیه قصیدو او غیرنعتیه شعرونو لوستلو څخه مراد ده ، _ لیکن برادرمحترم میرمحمد نعمان او بعضي ددې ځای یاران چې هغوي واقعه کښی حضور صلي الله علیه وسلم لیدلی دي ، چې د مجلس مولود خواني نه ډیرخوشحاله دی _ په هغوي مولود نه اوریدل اوترک کول ډیر مشکل دی

دا د سؤال فقرې وې

اوس جواب واوره

زما مخدومه که دَ واقعاتو څه اعتبار وای ، اوپه مناماتو اوخوبونو څه بهروسه یعني توکل وای ،نومریدانو ته به دَ پیرانو حاجت نه وای ،اوپه طریقوکښې یوه طریقه لازمه ول

به عبث معلومیدل ، ځکه چې هریو مرید به دَ خپل واقعاتو موافق عمل کولو ،اودَ خپلوخوبونو مطابق به ئې ژوند تیرولو ،خواه هغه واقعات اومنامات دَ پیردَ طریقی موافق وی یانه وی، اوخواه دَ پیرخوښی وی یانه وی ،

[او په دې کې هغه نور تفصیل هم کړی دي] چې په ج (۱) ص (٦٥٨) مکتوب (۲۷۳) تفصیل کتلای شي .داخو د ده دَپښتو ترجمه سوی کتاب عبارات وو ، اوس به مورږ دَ اصل کتاب چې په فارسی ژبه لیکل شوی دي . دَ هغه عبارات هم را نقل کړو څوچې حقیقت ښه ښکاره شي :

صحیفۀ التفات که از روی کرم نامزد این حقیرساخته بودند بوصول أن مبتهج ومسرور گردید [جزاکم الله سبحانه خیراً] اندراج یافته بود که اگرچنانچه مبالغه در منع سماع متضمن منع مولود که عبارت از قصائد نعت واشعارغیرنعت خواندن است نیزبود ، اخوی اعزی میرمحمد نعمان وبعض یاران اینجائي که دروقائع أن حضرت صلي الله علیه وسلم رادیده اند که ازین معرکۀ مولود بسیار راضی اند برینها ترک شنودن مولود بسی مشکل است ،

اوس وګورئ چې شیخ په جواب کې څه وایي .

مخدوما: اگر وقائع را اعتباربود ،وبرمنامات اعتماد باشد مریدان را به پیران هیچ احتیاج نباشد ، والتزام طریقی ازطرق عبث می افتد ،چه هرمریدی موافق وقائع خود عمل خواهد کرد ، ومطابق منامات خود زندگاني خواهد نمود أن وقائع ومنامات موافق طریق پیرباشند یا نباشند ومرضي او بوند یانبوند ، برین تقدیرسلسله پیری ومریدی برهم میخورد ، وهربوالهوسی بوضع خود مستقل میگردد ، ومرید صادق هزار وقائع را با وجود پیربه نیم جو نمیخرد ، وطالب رشید بدولت حضور پیرمنامات را ازاضغاث احلام میشمرد وهیچ التفاتی بانها نمی نماید .

نور هم شیخ رحمه الله جواب درازکړی دي په مکتوب (۲۷۳) حصه پنجم ص (۱۹)کی ئی وګورئ .

او پنځم هغه چا چې د عيد ميلاد النبی صلي الله عليه وسلم رد ئې کړی دي .

هغه صاحب الفتاوی منبع العلوم دي چې دَ کتاب عبارات ئې په دې ډول دي :
الاستفتاء (۲۷۵) :اگرشخصي جلسه ای به مناسبت وفات يا ولادت ويا سيرت پيامبرصلي الله عليه وسلم يا يکي از صحابه ی پيامبرگرفت ، وبرای رونق بخشيدن أن جلسه از جاها وشهرهای مختلف مردم را دعوت کرد ، واطلاعيه منتشرکرد ، ايا برگزاری اين جلسه چه طورست ؟ واگرشخص برگزار کننده جلسه به نفع شخصيت خود ش اين عمل را انجام داد چه حکمی دارد ؟ وهمچنين شرکت کنندگان چه حکمی را شامل اند ؟

الجواب باسم ملهم الصواب : جلسه های مذکوره درسؤال فی نفسه جائزوخوب ومندوب اند ، اما بشرط اينکه درانها اميزش امور نا مشروعه نباشد ، وکاملاً موافق با سنت وروش صحابه وسلف صالحين باشد _ ودرين مورد به چند نکته وشرائط اشاره می شور :
(۱) درأن جلسات مضامين اشتباه وموضوع بيان کرده نشود ،ورنه واعظ وسامعين همه گنهکار اند
(۲)اهتمام أن را بروجه ضروريات دين نکند ، ودرانها تشريفات مثل فرش کردن قالی ، نهادن کرسی ، پاشيدن گلاب ، وتقسيم شيرينی ، وسائرکارهائی اسراف انجام نگردد .
(۳)تعيين وتقييد ماه و روز را ضروری ندانند که غيرمقيد را مقيد کردن ،وغير ضروری را ضروری دانستن بدعت است .
(٤)برای أن انشار اطلاعيه و ازفساق وفجار قطعاً دعوت بعمل نيايد .
(٥)- درأن اغراض شخصی ومادی درنظر نباشد .
(٦)- تقرير وبيان به نوعی باشد که عوام سوء استفاده نکنند– حالاً اگر اين امورملاحظه نشوند أن جلسات
بدعات و ناروا می گردند برای همه مردم –انتهی ما فی منبع العلوم .

اوس که په انصاف وکتل شي ایا زموږ دا جلسات له دې امورو خالي دي اوکه په دې بدعاتوکې واقع یو حالأنکه بدعات څومره لویه ګناه ده ، وروسته به موږ ان شاء الله دَ کتابونو په حواله دا خبردرته ذکرکړو چه کوم شی دَ بدعت او سنت په مابین کی دائر شي. د هغه ترک ضروري دي . البته که یو شی په مابین دَ بدعت اوواجب کې دائرشي په دې کې بیا دَ علماؤ اختلاف ده چې پرېښوول ئې ضروروی دي اوکه ئې کول ضروروی .

اوپه دې خبره هم پوهیدل ضروري دي چې یو دَ رسول الله صلي الله علیه سولم دَ سیرت بیان دي هغه که دَ ولادت با سعادت بیان وی ، یا دَ نبوت او یا دهغه صلي الله علیه وسلم د غزاګانو ، اویا دهغه دَ طرز دعوت اویا نور هغه څه وي چې له سیرت سره تعلق لري _ اوکه په رمضان اویا په رجب اویا په شعبان اویا په یوه بله میاشته کې وي ،

نو دا ډول دَ سیرت بیانول خود لوی سعادت باعث دي ، اوهیڅوک له د څخه انکارنشي کولای ، خودا مجلسونه چې په ربیع الاول پورې خاص کړل شي اوبیا دَ عید میلاد النبي او دَ میلاد شریف نوم ورکول شي. نو دا هغه څه دي چې چا ورته بدعت حسنه اوچا ورته بدعت سیئه ویلي دي ، اوهم دغه خبره موضوع دَ بحث ده .

کله له یو عالم څخه سوال شوي وي ، چې دَ سیرت مجلس جوړول څنګه دي ؟ نو هغه عالم په جواب کې لیکلي وي چې داسې مجلسونه جوړول دَ لوی سعادت باعث ګرزي نو له د جواب ورکولو یو څوک دا وفهموی چې دَ میلاد دَ مجلس جواز ثابت سو .خولیکن مسئله داسې نه ده دَ دغو دوو خبرو تر مابین ډیرفرق دي . که دا مجلس له ټولو قیدونو مطلق وګرزي بیاخو جائز نه بلکه دَ عظیم خیراوبرکت سبب دي ، اوکه په یوقید مقید شي بیا نو دَ دیوبند ټولو علماؤ بدعت سیئه بللی دي . یو له هغو قیدونو چې یو روا کار هغه په وجه سره ناروا ګرځي . هغه دَ دې مجلس په ربیع الاول پورې خاصیدل دي ، لکه دَ منبع العلوم په عبارت کې چې اوس تیره سوه . او دَ نورو علماؤ په عباراتوکې هم راځي ان شاء الله تاسې به یې ووینئ .

اوس بیرته راځو دَ بحث ادامې ته :

شپږم هغه څوک چې دا عمل ئې رد کړی دي :

هغه مفتي نجم الحسن امروهوي رحمه الله دي . چې ده پخپل کتاب نجم الفتاوي کې داسې لیکلي دي :سوال : د دین علماء کرام او لوئ مفتیان د دې مسئلې په هکله څه فرمایې چې د رسول الله صلي الله علیه وسلم ولادت باسعادت کله او په کومه میاشت کښې شوی وو – اونن صبا چې کوم تجلیل د میلاد النبي په شکل کیږي ایا دا شرعاً جائز دي او که نه ؟ او که چیرې دا کار ناجائزوي نودَ هغه خلقو بیا څه حکم دي چې هغوئ دغه تجلیل دَ میلاد النبی کوي ؟ بینوا تؤجروا .

الجواب : حامداً ومصلیاً : دَ رسول الله صلي الله علیه وسلم ولادت با سعادت دَ ربیع الاول په میاشت کښې شوي وو، او په تاریخ کښې یې مختلف اقوال نقل شوي دي ، لیکن زیات راجح قول اتم (٨) ده ، او هم دا رازله خیرالقرون څخه دَ میلاد ثبوت نه دي راغلی ،او دا یو بدعت قبیحه عمل دي چې له هغه څخه ځان ساتل لازم دي ، او دَ دې عمل کونکي فاسقان بلل کیږي .

لما فی المشکوة ص (٢٧) عن عائشه ﵂ قالت : قال رسول الله صلي الله علیه وسلم : من احدث فی امرنا هذا ما لیس منه فهو رَدٌّ. وفی فیض الباری ج: (٢) ص : (٣١٩) : واعلم اَنّ القیام عند ذکرمیلاد النبي صلي الله علیه وسلم لا اصل له في الشرع واحدثه ملک الاربل کما فی تاریخ ابن خلکان :انه کان ینعقد له مجالس یصرف علیها اموالاً.

وعلی هامشه یقول العلامة محمدبدرعالم المیرتهی :یقول العبد الضعیف : ولاینبغی اَنْ یشک اَنّ المیلاد المروج بین اظهرنا حرام قطعاً ، فانه یشتمل علی المحرمات الکثیرة والمعاصي الظاهرة والباطنة من اضاعة المال وقراءة الروایات الموضوعة التي لا اصل لها في الدین ، فتلک المجالس کلها مجالس البدع فاحذروها ، وعلیکم بسنة نبیکم فانها العروة الوثقی لا انفصام لها .انتهي .

او اووم (۷) هغه څوک چې د میلاد نبي مجلس ئې رد کړی دي :

هغه مفتي رشید احمد صاحب دي . چې احسن الفتاوي کتاب ئې لیکلی دي . او ده هلته داسې لیکلي دي :سوال : په مروج میلاد النبي صلي الله علیه وسلم کې قیام کول څنګه دي ؟ بینوا تؤجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب :په محفل میلاد کښې قیام بدعت دي ، په حدیث کښې د دې صفا ممانعت راغلی دئ ، حضور صلي الله علیه وسلم په عین حیات کښې صحابه کرامو رضی الله عنهم ته وفرمایل چې تاسو په دریدلو ځما تعظیم مه کوئ څنګه چه د عجمو دستور دئ چې هغوی په خپل منځ کښې دَ یو بل په دریدلو سره تعظیم کوي ،

محفل میلاد په یو خاص ورځ کښې کول ، او هغه ضروري ګڼل دَ شیریني وغیره اهتمام کول ،قیام کول دا امور شرعاً ناجائز دي ، همدارنګه دَ حضور صلي الله علیه وسلم په مجلس کې دَ حاضریدلو اعتقاد ساتل شرک دئ ،د دې امورو څخه که چیرته مجلس پاک وی نو باعث د برکت او هدایت دئ ، او که نه نو ضلالت او ګمراهي ده . والله تعالی اعلم انتهي .

اوس به موږ وګورو . او له ځان سره به حساب وکړو .او ځان به داسې فرض کړو چې ګویا الله ﷻ له موږ سوال کوي ایا موږ دا ویلای سو چې هُوْ زموږ مجلس میلاد له دې امورو پاک دي ، او که داسې ده چې دَ ربیع الاول دَ دولسمی ښه شپه ورته وایو او په دغه میاشت پوری ئې خاص بولو او چې څوک ئې نه کوئ پر هغه چې زموږ خوښ شي. هغه نوم پر ایږدو او په بدو نومونو ئې بولو ،انصاف ستاسو په لاس کې دي . هرڅوک دَ الله ﷻ حضور ته پیش کیږي .

دَ مولانا رشید احمد صاحب په جواب کې . او یا له هغه څخه په سوال کولو کې بعضي داسې جملې راغلې دي. چې هغه خاص دَ بریلویانو په محفلونو کې وي ، دا ځکه

چې دا ټوله پروسه له دوي څخه را کاپي شوي دي ، چې دوي په کې ډیر رسوم او بدعات ځای کړي دي ، اوبیا ډیرخلق په غیرمستقیم ډول د دوي تر تاثیرلاندې راغلي دي .

اوس به صاحب نشرالاوراق ته ورشو . چې د محترم دَ احسن الفتاوی نوم هم په هغه فهرست کې راوړی دي کوم چې د دې عمل دَ جواز قول کوي ، نو اوس چې انصاف پخپله صاحب نشرالاوراق ته په لاس ورکړو او دې پخپله فیصله وکړی نو دی به د دې خبرې څه جواب ورکړي ؟

اواتم (٨)هغه څوک چې د میلاد نبي مجلس ئې بدعت سیئه اوحرام کاربللی دئ :

هغه مفتی محمد فرید رحمه الله دي چې هغه په خپله فریدیه نوم فتاوی . ج اول(١)صفحه (٣٠٤و٣٠٥) کښې داسې لیکلي دي :

سوال : په ربیع الاول کښې چې کوم خلق دَ سیرت مبارک دَ بیانولو دَ پاره کوم پُر تکلفه محفلونه جوړوي (١) نو آیا هرکال دا قسم دَ ذکرالرسول صلي الله علیه وسلم په محفلونو کښې واقعي ثواب شته ؟ ، (٢) او ایا دا سنگار والا محفلونه به شرعاً په بدعت حسنه کښې شمارل کیږي ، یا په بدعت دَ گمراهی کښې اوحال دادې چې عوام دا دَ محبت الرسول صلي الله علیه وسلم ،اودَ شان الرسول صلي الله علیه وسلم صحیح اوبهتر معیارگڼي ؟ (٣) او آیا په دې قسم محفلونو کښې مالي اوبدني تعاون کول تعاون على البردئ یا اعانت علي البدعة والمعصیة دئ .؟ بینوا توجروا .

الجواب (١) دَ رسول الله صلي الله علیه وسلم دَ ذکرکول دَ ثواب کاردي ،خو به دې طریقو او قیدونو سره بدعت دي [لعدم ثبوته فی خیرالقرون بوجهٍ ، ولاشتماله على التزام ما لایلزم ، وعلى الرعایة فوق رعایة الشریعة – قال الملاعلي القارى من اَصَرَّعلى امرٍمندوبٍ وجعله عزماً ،ولم یعمل بالرخصة اصاب منه الشیطان من الاضلال (مرقاة المفاتیح ص ٥٣ جلد ٢) – قال ابن عابدین وبان تخصیص الذکربوقت لم یرد به الشرع غیرمشروع].

.(۲)د دې اهتمام او التزام ثبوت به خیرالقرون کښې تر ننه پورې ثابت نه دی ..(۳) دا په مجموعي طورسره په بدعت سیئه کی شمارل کیږی (٤)دا اعانت نه دی بلکه اضاعت ده .انتهی باختصارما .

اوبیا په صفحه (۳۰۷و۳۰۸)کښې ئې داسې لیکلي دي سوال : نن صبا چې خلق مولود شریف کوي اودا دَثواب کاربولي ، او فائده هم پکښې شته ، چې دیني تقریرونه وغیره پکښې کیږي ، او دَ پیغمبرصلي الله علیه وسلم په ژوند مبارک باندي رڼا اچول کیږی نو دَ مولود شریف څه حکم دي ؟

الجواب : که مولود شریف دَ تبلیغي اجتماع نوم وي نو جائز دي ، او که دَ ولادت وغیره ذکرکولو نوم وي نو دا بذات خود یو لوئ عبادت دي ، لیکن دَ خارجي عوارضو اسراف وغیره وجوهاتونه دا موجوده مروجه دَ میلاد مجلسونه منعقد کول ممنوع دي [قال ابن عابدین : لودعي الي دعوة فالواجب الاجابة اِنْ لم یکن هناک معصیة ولا بدعة ، والامتناع اسلم فی زماننا الا اذا علم یقیناً اَنْ لا بدعة ولا معصیة ، والظاهرحمله علي غیر الولیمة لما مَرَّ- وفی التقریرات الرافعی ص (۳۰٦) لا یظهر هذا الحمل بل الظاهر حمله علی عمومه (رد المحتارص ۲٤٥) جلد ٥ کتاب الحظروالاباحة] انتهی .

نو اوس که چیرته یو څوک په دقت سره دَ مفتی صاحب عبارات په دواړه ځایه کې مطالعه کړئ نو دا په صراحت سره معلومیږي چې مفتي صاحب منع کړې ده ، خو بیا هم صاحب نشرالاوراق دَ مفتي صاحب نوم په هغو علماؤ کې راوړی دي. چې هغه دا عمل جائز بلکه حسن بولي ، خوزه وایم که د دې مولوی صاحب پوه دغه قدر وي نو دَ الله په خاطر نور د نشرالاوراق ته خاتمه ورکړئ ، او که دا تلبیسات وي دَ خلقو پر ذهنونو باندې نو بیا د شاغلی مولوی صاحب دَ پاره نور هم نقصان دي .

اوس مونږ بیرته خپلې موضوع ته راځو .

نهم (۹) هغه څوک چې د میلاد دَ عدم الجواز قول ئې کړي دي :

هغه مولانا رفعت قاسمي صاحب چې هغه په فتاوي مسائل رفعت قاسمي کې تر دې عنوان لاندې [عید میلاد النبي دَ شرعي دلائلو په رڼا کې]داسې لیکلي دي : په کوم وخت کې چې څومره فضیلت ډیر وي هغومره له شرعې حدودو څخه وتل الله او رسول ته ډیر ناخوښه وي ، له شرعي حدودو څخه دَ تجاوز معیار یوازې شرعي دَلائل دي ، یعني کتاب الله ، سنة الرسول صلي الله علیه وسلم اجماع دَ امت اوقیاس دَ مجتهدینو ، له همدې ټولو دلائلو څخه ثابتیږي چې په دې میاشته کې کوم اعمال خلګو رواج کړي دي لکه عید میلاد النبي صلي الله علیه وسلم یعني دَ اختر په څیرخوښي کول ، جلوسونه ایستل ، روښنائي جوړول ، بیرغونه ځړول او نور دا ټول له حدودو د شرعي څخه وتل دي ، نو هم دا ټول الله جَلَّ جلاله اورسول الله صلي الله علیه وسلم ته خورا ناخوښه اعمال دئ .

او بیائې تر دې عنوان لاندې [دَ بدعت پیژندل] دا سې لیکلي دي : د بدعت یوه علامه داده چې کومه خبره په قران اوحدیث ، اجماع او قیاس کې ثابته نه وي ، او هغه دین وګڼل شي ، هغه بدعت دي اوس وګورئ زموږ د وروڼو چې کوم اعمال دي لکه دَ ربیع الاول مراسم ، عید میلاد النبي صلي الله علیه وسلم عروس او نور هغه اعمال دي چې اصل ئې ثابت نه دئ . که دا له دین څخه ګڼئ اوکه ئې نه ګڼي دَ بدعت دَ قباحت راز هم دادي ، اوبیائې تشریح دَ بدعت په یو مثال کړي ده چې موږ دَ اختصار په وجه پریښودئ ، اوبیائې دَ بدعت او سنت تر ما بین فرق په دې ډول کړی ده .

کوم شئ چې دَ خیرالقرون ترزمانې را وروسته پیدا شوي وي هغه دوه ډوله دي --- یو هغه څه دي چې داعی هم نه وی موجود ، یعني په خیرالقرون کې دَ هغوئ ضرورت او اسباب نه وو . وروسته ضرورت ورته پیدا شو. لکه دَ دیني کتابونو تصنیف وغیره _ دویم ډول هغه شیان دي چې سبب ئې قدیم وي . یعني دَ رسول الله صلي الله علیه وسلم او دَ صحابه وو او تابعینو په وخت کې ئې سبب موجود وو . لکه دَ مروجه میلاد مجالس

ځکه چې هغه دَ رسول الله صلي الله عليه وسلم دَ پيدايښت نيټه وه . خو رسول الله صلي الله عليه وسلم او صحابه وو دا مجلسونه نه دي جوړ کړئ ، نو ايا دَ صحابه وو فکر دې ته نه رسيدى ؟ خو دا چې سبب ئې موجود وو . نو څه وجه وه چې رسول الله صلي الله عليه وسلم کله هم دا غونډه نه ده جوړه کړئ ، او صحابه وو هم دا کار نه دي کړي ، نو ددې کار حکم دادي چې دا کار صورتاً هم بدعت دي ، او په معنى کې هم په دې قاعده دَ سنت او بدعت فرق کيدلى شي ، انتهى .

نور هم دَ مولانا رفعت قاسمي دا تحقيق جريان لري خو موږ دَ اختصار په تور پريښودي چې هلته ده پخپله دې فتاوى کښې په جلد (٦) او صفحه له (٢٢٤) بياتر صفحه (٢٣٦) پورې پردې مسئله مفصل او مدلل تحقيق کړى دي .

خوترټولوعجيبه داده چې صاحب دَ نشرالاوراق دَ دې مولانا صاحب نوم هم دَ هغه خلقو په فهرست کې راوړى دي چې دا عمل ئې ثابت کړى دي ، خوموږ پوه نه شو . چې صاحب نشرالاوراق له کومه ځايه دا ثبوت فهمولى دي ، افسوس صد افسوس چې دين څونه مظلوم او څونه غريب شو . چې هيڅ خواخوږى نه لري چې صاحب نشرالاوراق ته وايي چې ولې دَ خلقو اذهان خرابوي او په علماؤ پورى ناحقه بهتان وايي بلکي پرځاى دَ دې چې صاحب دَ نشرالاوراق تهديد شى دا خو پريږده ، بلکي عليحدة تحسين پې لا هم کيږي ، او دَ مکافات مستحق ئې بولي ، فانا لله وانا اليه راجعون .

اولسم (١٠) هغه څوک چې دا تقريب ئې حرام بللى دي:

هغه حضرت مولانا مفتى رضاء الحق صاحب د فتاوى دار العلوم زکريا دي ، چې ده پخپله فتاوى دارالعلوم زکريا کښې داسې ليکلي دي سوال : دَ رسول الله صلي الله عليه وسلم د ولادت په ورځ د ميلاد دَ محفل جوړول جائز دي او که نه ؟ چې په عرف کې ورته ميلاد النبي ويل کيږي ، که چيرې روا وي نو صورت به ئې څنګه وي ، او دَ ديوبند دَ علماؤو په دې هکله څه نظر دي ؟

الجواب : دَ رسول الله صلي الله علیه وسلم ذکر دا سې د برکت شئ دي چې هر وخت ئې باید دَ مسلمانانو په غوږه اورګونوکې سرایت کړی وئ . او هیڅ وخت باید دَ ده مبارک صلي الله علیه وسلم له یاد څخه خالي نه وي . یواځې دَ ولادت شریفه او دَ معراج شریف په یادونه اکتفاء ونه کړل شي ، بلکي دَ ده مبارک صلي الله علیه وسلم هره خبره ترداسې بریده چې دَ ده مبارک صلي الله علیه وسلم په ولاړه ، ناسته ، طعام ، لباس ، اخلاقو، عباداتو، مجاهداتو، ریاضاتو، افعالو، احکامو، او اوامرو ، او نواهیو ټولو یادونه دَ مسلمان دَ پاره دَ اجر اوثواب باعث ده . مګرشرط دادي چې دَ سنت موافق وي .

خو افسوس صد افسوس ! نن صبا دَ محبت دعوی کونکو دَ حضور صلي الله علیه وسلم د ذکر یوه نوې طریقه غوره کړي ده چې دَ ربیع الاول پر دولسم تاریخ دَ میلاد ورځ لمانځي ، او دَ هغه نوم ئې میلاد النبي ایښي دي . حال دا چې دَ دغه مجلس شروع په شپږمه هجري پیړی کې وشوه ، ترشپږ سوه کالو پورې د دې مجلس یادونه نه وه شوی ، اوعمر بن محمد دَ موصل په ښار کې په لومړي ځل هغه ایجاد کړي، او په هغه کې ډیر زیات منکرات ور کډ شول .

نن صبا دَ میلاد په رواجي مجالسو کې خلک جمع کیږي ، دَ جاهلو شاعرانو قصیدي ، له ځانه جوړ سوي روایات په نغمه او ترنم سره وایي ، په هغه کې بې لمانځه او فاسقان هم وی ، او دغه یاده طریقه ضروري ګڼل کیږی ، دا دَ سنت خلاف او بدعت ده ، نه دَ صحابه کرامو نه دَ تابعینو ، او نه دَ تبع تابعینو ، او نه له امامانو څخه ثابته ده [فتاوی رحیمیه ج (۱) ص (٤٩٣)]

داخو نوموړي فتاوی دَ فتاوی رحیمیه په حواله ذکرکړي دي ، او بیا ئې دَ المدخل ج (۱) ص (۱٥۷) په حواله داسې لیکلي دي: الا تری أنهم لما خالفوا السنة المطهرة ، وفعلوا المولود لم یقتصروا علی فعله بل زادوا علیه ما تقدم من الاباطیل المتعددة ، اهـ .

او بیائې دا سې ویلي دي : دَ دیوبند علماؤو دَ دغه مروجې طریقې چې کوم خرافات وغیره ورگډ شوي دي دَ هغه دَ بطلان او بدعت بللو څرگندونه ئې کړې ده ، اوبیا یې پر دې کتابونو حوالې ورکړې دي [امداد المفتین ج (۲) ص (۱۷۳) ط : دار الاشاعت] آو [امداد الاحکام ج (۱) ص (۱۸۷)] او [احسن الفتاوی ج (۱) ص (۳۸۳)] او [فتاوی رحیمیه ج (۱) ص (٤۹۲)] او [خیرالفتاوی ج (۱) ص (۵۸۷)] او [کفایت المفتی ج (۱) ص (۱٤۷) دار الاشاعت] او [راه سنت ص (۱٦۰) و(۱۱٦۷) محفل میلاد مکتبه صفدریه]

او بیا ئې دَ راه سنت په حواله داسې لیکلي دي پوره شپږ پیړۍ تیرې شوي وې چې په مسلمانانو کې هیڅ ځای دَ دغه بدعت رواج نه ؤ. دا نه کوم صحابي را شروع کړی دي ، نه تابعی ، نه کوم محدث ، نه کوم فقیه ، نه کوم بزرگ نه کوم ولی دا بدعت یو اسراف کونکي بادشاه شروع کړي ، او دَ هغه یو دنیا فرسته مولوی ملگری دغه بدعت په سنه (٦۰٤ ،هـ) کی دَ موصل په کی دَ مظفرالدین کوکری بن اربل په حکم را منځ ته شوو . چې یو مسرف او له دین څخه بې پروا بادشاه وو .[راه سنت ص (۱٦۲)]

خلاصه داده چې دَ میلاد دَ جشن په نامه چې کوم خرافات رواج شوي دي ، چې په هغو کې هر کال پرلپسې توگه زیادت کیږي دا دَ اسلام له دعوت او دَ هغه له روح او دَ هغه له مزاج سره بیخي منافي دي ، لهذا دَ دې ټولو رواجونو او منکراتو پریښوول لا زمي دي ، الله تعالی د موږ له ټولو بدعاتو او خرافاتو وساتئ ، او دَ رسول الله صلي الله علیه وسلم صحیح عظمت محبت او اطاعت د را په برخه کړي أمین یا رب العلمین .

زه وایم :عجیبه خوداده چې د زابل ولایت دَ مرکز قلات دَ بازار یو مولوي صاحب چې موږ ئې په د رساله کښې په صاحب نشرالاوراق تعبیر وو . هغه دَ دې فتاوی حواله هم دَ هغو علماؤ په فهرست کې راوړې ده چې دا عمل جائز بلکه مستحب بولي ، نو موږ نه پوهیږو .چې مولوي صاحب دا جواز له کومه ځایه فهموي ، او حال دا چې صاحب د دې فتاوی یواځې دا نه چې ده پخپله دا عمل غیر جائز گرزولی دي بلکې دَ نورو ډیرو کتابونو حوالې تاسو ولیدې چې ده رانقل کړې .

اوتردې خولا بله عجیبه دا هم ده چې مولوی صاحب محمد حسن پخپله شرح کې دَ دې عمل ثبوت په أیت کړي دي ، او ده هلته دَ دې متن [قوله : مولود شریف او نور دَ ښـو شپو خیراتونه جائز او روا بولو]داسي لیکلي دي . په د عبارت کې درو مسئلو ته اشاره ده

(۱) ـ اوله مسئله داده : دَمیلاد لمانځل جائز دي (۲)ـ دویمه مسئله داده :دَ میلاد النبی صلي الله علیه وسلم په ورځ خیرات جائزده . (۳)ـ دریمه مسئله داده . دَ نورو ښـو شپو اوورځو خیراتونه جائزدی .

اوبیا ئې اوله مسئله پردولس (۱۲) مقصده ویشلې ده ، دَ اول مقصد بیان ئې په دې ټکوکې کړی دئ : مقصد له میلاد النبی صلي الله علیه وسلم اول خوشحالي کول دي دَ رسول الله صلي الله علیه وسلم دنیا په راتلو باندې ، او چې کله ئې مقاصد ټول پوره بیان کړي دي ، بیا یې داسې ویلې دي .

د اول مقصد اثبات دا دئ ، چې الله ﷻ ویلي دي :. ﴿ قُلْ بِفَضْلِ اللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِ فَبِذَلِكَ فَلْيَفْرَحُوا هُوَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ﴾ سورة یونس الایة (۵۸) او بیا ئې دَ اهل التفسیر یو څه اقوال دَ دې خبرې دَ ثبوت دَ پاره پیش کړي دي چې مراد له رحمته څخه رسول الله صلي الله علیه وسلم دي ، اوس موږ وایو چې نوره خبرخو پر خپل ځای ټوله صحیح ده ، صرف دَ دوو خبرو سوال دلته پیدا کیږي ،

اول دا چې دَ الله ﷻ دا حکم خو مطلق دي ، نو موږ باید په ټول کال کې هره ورځ خوشحاله سو ، دا چې یو څوک په ټول کال کې له دې خوشحالي ناخبره وي ، خویواځې دَ ربیع الاول پر دولسمه د دې نعمت شکروایي او خوشحالي کوي دا خو پرځای د دې چې دَ ده دا عمل یو نیک کار وبلل شي دا خو بیخي نسته بلکه ده په دې حکم کې ډیر تقصیرکړي دي .

خلق دَ رسول الله صلي الله علیه وسلم په راتلو دنیا ته په ټول کال کې هره ورځ خوشحاله وي . اود رسول الله صلي الله علیه وسلم په سنتو هر وخت عمل کوي . اود رسول الله صلي الله علیه وسلم په سنت هر وخت عمل کول دَ هغه دَ محبت اظهاردي

. او دا دَ میلاد عمل کونکي بیا تول وخت ورته ناست وي ، او دَ سنت په خلاف عمل کوي ، خو چې کله دا ورځ راورسیږي بیا نو د ده جذبات را ژوندي شي ، نو آیا دا یو عجیبه خوشحالي او عجیب محبت نه دي ؟

او دویم دغه استنباط چې اصحاب کرامو نه وکړ، او تابعینو نه وکړ، او تبع تابعینو نه وکړ، او مجتهدینو نه وکړ ، او پوره شپږ سوه کاله (٦٠٠) وروسته بیا یو بادشاه دا استنباط وکړ، ایا دا بادشاه مجتهد وو ؟ اوکه مفسروو ؟ او که نه نو مسئله باید پرسنت الرسول صلي الله علیه وسلم عرض کړل شي . که له سنت الرسول صلي الله علیه وسلم څخه هیڅ مستند ونه لري نو بیا خو ترکولو ئې پریښوول بهتردي .

عن عبد الله بن عمرو قال : قال رسول الله صلي الله علیه وسلم لیأتین على أُمتي ما أتى على بني إسرائيل حذو النعل بالنعل حتى إن كان منهم من أتي أمه علانية لكان في أمتي من يصنع ذلك وإن بني إسرائيل تفرقت علي ثنتين وسبعين ملة وتفترق أمتي علي ثلاث وسبعين ملة كلهم في النار إلا ملة واحدة قالوا ومن هي يا رسول الله قال ما أنا عليه وأصحابي.[رواه الترمذی في کتاب الایمان].

له دې حدیث مبارکه خو داسي معلومیږي چې دین مرضي او الله ﷻ ته خوښ دین هغه دین چې له رسول الله صلي الله علیه وسلم څخه را نقل شوي دي . او له ځانه جوړ شوي دین بیا دَ هغو خلقو دین دي چې دو اویا (٧٢) نورو ډلوکې راځي .

حدثنا سويد بن سعيد وأحمد بن ثابت الجدري . قالا كان رسول الله صلي الله علیه وسلم إذا خطب احمرت عيناه وعلا صوته واشتد غضبه كأنه منذر جيش يقول صبحكم مساكم . ويقول (بعثت أنا والساعة كهاتين) . ويقرن بين إصبعيه السبابة والوسطى .ثم يقول (أما بعد فان خير الأمور كتاب الله . وخير الهدي هدي محمد . وشر الأمور محدثاتها .وكل بدعة ضلالة) [رواه ابن ماجه] ـ قال الشارح:(وشر الأمورمحدثاتها) المراد بها ما لا أصل له في الدين مما أحدث بعده علیه السلام .

اوس که دَ دې دوو حدیثونو په نظر کې نیولو سره یوڅوک فکر وکړي نو دې نتیجې ته به ورسیږي چې نور نو کوم څه چې دَ رسول الله صلي الله علیه وسلم او دَ صحابه

رضوان الله علیهم اجمعین په وخت کې نه وي شوي هغه شي ته دَ دین رنګ ورکولو هیڅ ضرورت ورته نشته .

الله ﷻ په سورة أل عمران الاية (٣١) کې فرمایلي دي : ﴿قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ نو که مقصد دَ الله ﷻ رضاء او له رسول الله صلي الله علیه وسلم سره اظهار دَ محبت وي خو لاره الله ﷻ هم په دې أیت کې او هم رسول الله صلي الله علیه وسلم په دې احادیثوکې ښودلې ده ، او که مقاصد نور څه وي نو بیا تاسو او ستاسو کار، الله ﷻ ته هرڅوک پیش کیږی او جواب به ورکوي .

وفی تفسیرابن کثیر تحت هذه الاية : هذه الآية الكريمة حاكمة على كل من ادعى محبة الله، وليس هو على الطريقة المحمدية فإنه كاذب في دعواه في نفس الأمر، حتى يتبع الشرع المحمدي والدين النبوي في جميع أقواله وأحواله، كما ثبت في الصحيح عن رسول الله صلي الله عليه وسلم أنه قال: "مَنْ عَمِلَ عَمَلا لَيْسَ عليه أمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ" ولهذا قال: { قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ } الاية .

وفی تفسیرالطبري عن الحسن في قوله:"إن كنتم تحبون الله" الآية، قال: إن أقوامًا كانوا علي عهد رسول الله صلي الله عليه وسلم يزعمون أنهم يحبون الله، فأراد الله أن يجعل لقولهم تصديقًا من عمل، فقال:"إن كنتم تحبون الله" الآية، كان اتباعُ محمد صلي الله عليه وسلم تصديقًا لقولهم.

اوس بیرته را ګرځو دَ بحث ادامې ته : کله چې مورږ په مخ کې دَ فتاوی دارالعلوم زکریا یو څه توضیحات دَ دې مسئلی په رابطه را نقل کړل هغه خو تاسو ولیدل چې څه ورځیني فهمیدل . اوس به ان شاء الله تعالی هغه څه هم را نقل کړو چې دَ صاحب نشرالاوراق او دَ هغه دَ امثالو دَ غلط مهم سبب ګرزیدلي دي ، او هغه دا چې ده هلته داسي لیکلي دي :

سوال : دَ محفل میلاد او دَ مړي څلویښتمه دَ جمعی دَ شپي خیراتونه ، دا مسکوت عنها شیان دي ، نو دې ته بدعت ولي ویل کیږي ؟

الجواب :دَ میلاد محفل وغیره فی نفسه مباح دي ، مګرکله چې هغه واجب او یا سنت وګڼل سي ، یا له خپله ځانه یې دَ اوقاتو تعیین وشي ، او په ټاکلي وخت کې یې ثواب زیات وګڼل شي ، اوپرته کونکي یې انکاروکړل شي نو بیا بدعت بلل کیږي .

نو اوس که سړي دې ته ځیر شي او دا دوې خبر ي سره جلا کړي ، چې یو نفس اباحت دي ، او یو دَ ربیع الاول دَ دولسمي جلسه او خوشحالي او خیراتونه دي ، نو که یو څوک دَ مطلق محفل چې په هغه کې دَ رسول الله صلي الله علیه وسلم دَ ولادت ، یا دَ هغه معراج ،اویا دَ هغه دَ هجرت ، اویا دسیرت له بله اړخه بحث کیږي دا یو شي دي ، او دَ ربیع الاول دَ دولسمې تخصیص ده دا بل شي دي.

نو صاحب دَ دې فتاوی دَ اطلاق جواز ویلي دي ، او صاحب دَ نشرالاوراق دا مقید مجلس ځینی فهمولي دي چې دَ ربیع الاول په دولسمه کیږي . بلکه دا غلطي صاحب دَ نشرالاوراق ته په اکثرهغو فتاواؤ کې کړې ده چې ده پخپله ورقه کې حوالې ورکړې دي .

.نو کوم شئ چې مطلق ثابت هم شي خو تقیید یې په یو خاص وخت پورې په نزد فقهاؤ صحت نه لري ، لکه څنګه چی ابن نُجیم المصري الحنفی په بحرالرائق شرح کنزالدقائق کې دا سې ویلي دي :

ولاَنۃ ذکر الله تعالی اذا قُصد به التخصیص بوقت دون وقت ، او بشيءٍ دون شيءٍ لم یکن مشروعاً حیث لم یرد الشرع به لانه خلاف المشروع ، انتهی [البحرالرائق ج (۱) ص (۱۵۹)]

او یوولسم (۱۱) هغه څوک چې دا عمل ئې رد کړی دي :

هغه مولانا خلیل احمد سهارنپوري رحمه الله دي چې ده په خپل مشهور مصنف [المهند علی المفند چې په عقائد علماء دیوبند سره شهرت لري] کې دَ یوسؤال په جواب کې داسې لیکلي دي : حاشا ان یقول احد من المسلمین فضلاً اَنْ نقول نحن اَنۃ ذکر ولادته الشریفة علیه الصلوة والسلام بل ذکرغبارنعاله وبول حماره - الی اَنْ قال :بشرط اَنْ مقروناً بصد ق النیة والاخلاص ، واعتقاد کونه داخلاً فی جملة

الاذكارالحسنة المندوبة غير مقيد بوقت من الاوقات اهـ [المهند على المفند ص (٢٠و ٢٢)]

دَ مولانا خليل احمد سهارنپوري رحمه الله دَ جواب خلاصه داده چې دَ رسول الله صلي الله عليه وسلم دَ سيرت بيان چې په هر وخت کې وي ، او دَ سيرت هره حصه چې وي که دَ ولادت بيان وي ، اوکه دَ هجرت بيان وي اوکه نورڅه وي حتى ترداسې اندازې چې دَ رسول الله صلي الله عليه وسلم دَ پايزار مبارک گرد ، اويا دَ ده مبارک دَ خره دَ بولو بيان هم وي خو مونږ ته مقبول او باعث ثواب دي، خو چې مقيد په وقت سره نه وي ، نو محترم مولوي صاحب ته خوئې دَ مولود شريف ښه شپه بولې ، اوتا خوله دغې مياشتې ماسوا بيا بيخي رسول الله صلي الله عليه وسلم ياد کړي هم نه دي ، په ټول کال کې په بدعاتو او رسوماتو اخته يي ، نه دې هيڅ وخت يو دَ بدعت ترديد کړي دي ، او نه دې هيڅ وخت دَ سنت ترغيب چا ته ورکړي دي خو يواځې دا شپه چې راشي بيا نو ته دَ رسول الله صلي الله عليه وسلم عاشق جوړ شي اوجذبات دې په حرکت کې راشي ، او هغه څوک چې په کال دولس مياشتې کې دَ رسول الله صلي الله عليه وسلم دَ سنتو درس خلقو ته ورکوي پر هغه تا دَ وهابي نوم ايښي دي ، خوته يواځې په دې سره دَ امام ابوحنيفه رحمه الله دَ مذهب ټيکدار شوي چې تا دَا ورځ لمانځله ، نو تا په کوم کتاب کې دا وليدل چې امام ابوحنيفه رحمه الله ميلاد لمانځي ، الله ﷻ ته به حاضرشي دا هرڅه حساب لري ، اودَ دې ټولو خبرو حساب به ورکړې .

او دولسم (١٢) هغه څوک چې دا عمل ئې بدعت ا و دَ شريعت مخالف عمل بللي دي .

هغه مفتي اعظم مفتي محمد تقي عثماني مدظله العالي دي چي په خپل مشهور مصنف فتاوي عثمانى کې دَ يوه سوال په جواب کې داسې ليکلي دي : دَ جشن عيد ميلاد په شريعت کې هيڅ اصل نسته ، البتة دَ حضور صلي الله عليه وسلم ذکر مبارک او دَ حضور صلي الله عليه وسلم دَ سيرت مبارک د اوريدو او اورولو دَ پاره څه مجلس دَ څه خاص ورځ يا تاريخ له قيد نه بغيرکه منعقد کړل شي صحيح دي .

او بيا ئې دَ [الابداع فى مضارالابتداع]كتاب په حواله داسې ليکلي دي : آول من آحدثهآ بالقاهرة الخلفاء الفاطميون فى القرن الرابع فابتدعوا ستة موالد ..... ثُمَّ أُعيدت في خلافة الحاكم بامرالله في سنة اربع وعشرين وخمسمائة بعد ما كاد الناس ينسونها ، واول من احدث المولد للنبي صلي الله عليه وسلم بمدينة اربل الملك المظفر في القرن السابع ، وقد استمرالعمل بالوالد الي يومنا هذا وتوسع الناس فيها ، وابتدعوا بكل ما تهواه انفسهم ويوحيه اليهم الشيطان .

او بيا ئې دَ نورو علماؤ دَ کتابونو حوالې په دې ډول بيان کړي دي : دَ جشن ميلاد النبي صلي الله عليه وسلم دَ تاريخي شرعي حيثيت متعلق د مکمل تفصيلاتو دَ پاره دا لاندې کتابونه وګورئ :

اول : فتاوي ميلاد شريف مجموعه اضافات حضرت مولانا احمد علي سهارنپوري ، حضرت ګنګوهي ، حضرت تهانوي رحمهم الله

دويم : فيصلهٔ هفت مسئله – حضرت حاجي امداد الله مهاجرمکي رحمه الله

دريم : التحذيرمن البدع - عبد العزيزبن عبد الله بن بازرحمهم الله عليه

څلورم : الانصاف فيما قيل فى المولد – ابوبکرجابرالجزائرى

پنځم جواهرالفقه ج (١) ص (١٥٩) مفتي اعظم مفتي کل پاکستان حضرت مولانا مفتي محمد شفيع صاحب رحمه الله

شپږم : راه سنت ص (١٢٥) حضرت مولانا سرفراز خان صفدر صاحب دامت برکاتهم

اُووَمْ : تاريخ ميلاد – حکيم مولانا عبد الشکور مرزا پوري رحمه الله

دَ دغو علماؤو پرکتابونو ئې حوالې ورکړې دي خو له موږ سره في الحال يوائې جواهرالفقه موجود ده ، چې دَ هغه عبارت او فتوي به موږ ان شاء الله تعالي په يو مختصرتعبيرسره نقل کړو ان شاء الله چې دَ ډيرو شبهاتو دَ دفع وړ به وګرزي

چې ده هلته له يو اوږد بحث کولو وروسته داسې ليکلي دي :

دَ اتمې هجري پیړۍ مشهور او معروف دَ حدیثو او تفسیر امام علامه شاطبي پخپل کتاب اعتصام کې لیکلي دي : واما غیرالعالم وهو الواضع لها [یعني البدعة] فانه لایمکن اَنْ یعتقدها بدعة ، بل هي عنده مما یلحق بالمشروعات کقول من جعل یوم الاثنین یصام لانه یوم مولد النبی صلي الله علیه وسلم . وجعل الثاني عشر من ربیع الاول ملحقاً بایام العید لانه علیه السلام ولد فیه .

او دَ اومې هجري پیړۍ مشهور او معروف بزرګ علامه ابن الحاج رحمه الله پخپل کتاب المدخل کې دغه بحث په مستقل فصل کې بیان کړیده ، چې متفرقې جملې یې په لاندې ډول دي : وجملة ما احدثوه من البدع مع اعتقادهم اَنّ ذلک من اکبرالعبادات واظهار الشرائع ما یفعلونه فی شهر ربیع الاول من المولد ، وقد احتوی علي بدع ومحرمات الخ ،

او دَ دې کتاب موږ له مخه تر دې هم یوځه عبارات نقل کړل ،اویوځه وضاحتونه مو بیان کړل . اوس بیرته موضوع ته راګرزو ، چې مفتي صاحب محترم ودې تحقیق ته ورکړي دي ترڅو چې ده هلته داسي لیکلي دي : چې دَ اسلام او مسلمانانو دَ پاره په هیڅ وخت او حالت کې هغه طریقه ګټوره نشي کیدی چې دَ رسول الله صلي الله علیه وسلم او دَ راشده خلفاؤ او صحابه کرامو له سنته جلا وي ، دَ مسلمانانو دیني ترقي اومنافع ټول پر اتباع دَ سنت موقوف دي ، او هم دَ دې ځورلس سوه کاله اسلامي تاریخ تجربه هم دغه راښيي چې دَ مسلمانانو ټول دیني پرمختګونه هم په مجموعي ډول دَ محمد صلي الله علیه وسلم او دَ اصحابو کرامو دَ سنت پر اتباع موقوف دي ، او له موجوده تنزل او انحطاطي وروسته هم که چیرته دَ دې اُمت دَ بیا سنبالیدلو دَ پاره کومه پاته وي هغه هم صرف دغه لاره پاته ده ، چې په اول وارئې خلق ټول له ګمراهیو او ذلت له تورو شپو رایستلې وو ، چې دَ رسول الله صلي الله علیه وسلم او دَ صحابه کرامو دَ سنت اتباع وه .

په دې اړه حضرت امام مالک رحمه الله داسې فرمايلي دي :[لا یصلح اخیر هذه الامة الا مایصلح به اولها] او همدارنګه نوموړي امام وایي : [مالم یکن یومئذٍ دیناً لا

یکون الیوم دیناً] او دَ مسلمانانو دَ اصلاح ، یا د اسلامي تعلیماتو دَ خیر او غښتلتیا دَ پاره نوې نوې لارې او له بدعته دَ ډکو رسمونو دَ پیدا کیدلو ممانعت چې په بې شمیره ایتونو او حدیثونو کې راغلی دي ، هغه راز هم امام مالک رحمه الله ښه ښکاره کړی دي ، هغه وایي : [من ابتدع في الاسلام بدعة یراها حسنةً فقد زعم اَن محمداً صلي الله علیه وسلم خان الرسالة لان الله تعالی یقول ﴿الیوم اکملتُ لکم دینکم﴾ فما لم یکن یومئذٍ دیناً لا یکون الیوم دیناً]

او بیا له یوڅه نوره وضاحته وروسته ده هلته داسې لیکلي دي : خلاصه داده چې دا کار نهایت مستحسن کار دي ، په دې شرط چې د دې کار د پاره کوم تاریخ او نیټه مقرره نشي ، کله د صفرې په میاشته کې وي ، اوکله دې په جمادي الاولي ، او کله دې دَ ربیع الاول ، اوکله دې په رجب کې وي ، علي هذا القیاس دوولسم یا پنځلسم تاریخ دې دَ هریو دَ پاره مقرر نشي ، یعنی هره میاشته چې وي کله دې دَ میاشتې لسمه او کله شلمه وغیره ، دانه چې همیشه د میاشتې یو مخصوص تاریخ مقرر وي ، او هم دارنګه په کال کې یو وار نه بلکې ډیر واره یعني په هرو دوو یا درو میاشتو کې باید یو وار دَ سیرت جلسې ضرورو شي ، څو چې خلق دَ رسول الله صلي الله علیه وسلم له اخلاقو او زندګي سره اشنا شي ، او همدارنګه دَ سیرت په اړه تقریر کونکي دې باخبره او پوه کسان وي ، چې صحیح او قوي روایتونه بیان کړي ، او عام خلق دَ رسول الله صلي الله علیه وسلم له اصل ژونده خبرکړي ، تر څو پوري چې دا ډول بیان عوامو ته مسلسل ونه رسیږي صحیح او کما ینبغي فائده نه رسیږي ،

تردې ځایه خو دَ مفتي صاحب دَ تحقیق یوه برخه وه چې زموږ د دې فهرست دَ علماؤ په سلسله کې دولسم(۱۲) عا لم کیږي ، البتة ده چې هلته دَ کوم سؤال په جواب کې کوم توضیحات نقل کړي دي ، نو له هغو توضیحاتو څخه هغه څوک پوره فائده حاصلولای شي. چې هغه څوک دَ برصغیر او جنوبي آسیا له حالاتو پوره خبرولري ، خو افسوس زموږ دَ علاقې بعض علماء دونه پراخه مطالعه نه لري نو په دې وجه ئې ذهن له تنقیداتو ډک وي ، او پرهرچا دَ خپلی ناخبرئ په وجه بد ګمانه وي .

نواوس خو دَ مفتي صاحب له دې توضيحاتو هم دا معلومه شوه چې دَ دې عمل اطلاق خو هيڅوا نه دی رد کړي ، البته کوم انکارچې علماؤ کړي دي. هغه دَ دې عمل تقييد اوشرائطو دي ، نوکه چېرته دا عمل له قيوداتو اوشرائطو خالي شي بيا هرچا ته مقبول دي ، او که قيود او شرائط ورګډ کړل شي نو بيا خو تقييد د مطلق زموږ د احنافو د مذهب علماؤ په اتفاق سره رد کړي دي چې اوس به موږ ان شاء الله دَ بعضو فقهاؤ عبارات د ثبوت د پاره پيش کړو .

في البحرالرائق : ولاَنّ ذكرالله تعالي اذا قُصد به التخصيص بوقت دون وقت ، او بشيءٍ دون شيءٍ لم يكن مشروعاً حيث لم يرد الشرع به لانه خلاف المشروع ، [البحرالرائق ج (٢) ص (١٥٩) ط : الماجديه]

وفى الاعتصام للشاطبي : ومنها : التزام العبادات المعينة فى اوقاتٍ معينةٍ لم يوجد لها ذلك التعيين فى الشريعة [الاعتصام ج (١)ص (٢٩)دارالكتب العلمية بيروت]

وفى تفسيرابن كثير: واما اهل السنة والجماعة فيقولون فى كل فعل وقول لم يثبت عن الصحابة رضي الله تعالي عنهم هو بدعة لانه لو كان خيراً لسبقونا اليه لانهم لم يتركوا خصلةً من خصال الخيرالا وقد بادروا اليها ، [تفسيرابن كثير ج(٤) ص (١٥٢) سهيل اكيډمي لاهور]

وفي المرقاة : قال الطيبى : وفيه من اَصَرِّعلي امرمندوب وجعله عزماً ، ولم يعمل بالرخصة فقد اصاب منه الشيطان من الخلال ، فكيف بمن اَصَرِّعلي بدعة اومنكر، [ج (٣) ص (٣١) ط : المكتبة الحبيبية كوئټه]

وايضاً فى الاعتصام للشاطبي : منها وضع الحدود والتزام الكيفيات والهيئات المعينة والتزام العبادات المعينة فى اوقات معينة لم يوجد لها ذلك التعيين فى الشريعة [الاعتصام فصل فى تعريف البدع الخ ج (١ص ٢٩) ط : دار الفكر] اوس انصاف ستاسو چې تا سو د ځان په حق کې کومه فيصله کوئ .

وايضاً فيه بعد ما اورد قول العلماء الذين قسموا البدعة الي خمسة اقسام وقالوا ان البدعة اذا دخلت تحت ادلة الوجوب فهى واجبة ، واذا دخلت تحت ادلة المندوب

فهي مندوبة وهكذا : فقال : والجواب اَنہ هذا التقسيم امرمخترع لا يدَلہ عليه دليل شرعي بل هو فى نفسه متدافع ؛ لانہ من حقيقة البدعة اَنْ لا يدل عليها دليل شرعي لا من نصوص الشرع ، ولا من قواعده ، اذ لوكان هنالک ما يَدَلہ من الشرع على وجوب او ندبٍ او اباحة لما كان ثَمہ بدعة ، ولكان العمل داخلاً فى عموم الاعمال المامور بها، اوالمخيرفيها، فاجمع بين عَدہ تلک الاشياء بدعاً وبين كون الادلة تدَلہ علي وجوبها او ندبها او اباحتها جمع بين متنافيين .

اما المكروه منها والمحرم فمسلم من جهة كونها بدعاً لا من جهة اخري ، اذ لو كان دليل علي منع امر او كراهته لم يثبت ذلک كونه بدعة ، لامكان اَنْ يكون معصية ، كالقتل والسرقة وشرب الخمرونحوها ، فلا بدعة يتصور فيها ذلک التقسيم البتة الا الكراهة والتحريم حسبما يذكرفى بابه انتهى [الاعتصام ج (١)ص ١٤٥]

او دیارلسم (۱۳) هغه ځو ک چې دا عمل ته بدعت وایي :

هغه مفتي كفایت الله الدهلوي دي چې ده په خپله فتاوي كفایت المفتي کې له . صـ (٢١١) بيا تر صـ (٢٧١) پوري پر دې مسئله ډیر ښه لیکلي دي ، خو موږ به دلته دَ نمونې په شكل دَ ده دَ تحقیق مختصریاداشت ولیکوچې ده هلته داسي لیکلي دي :

سوال :ما قولكم رحمكم الله ، په دې زمانه کې چې څرنګه خلق مولود شریف وایي ، او دَ نبي صلي الله عليه وسلم دَ پیدایښت په بیان کې قیام کوي ، دَ حضرت محمد صلي الله عليه وسلم په زمانه ، یا دَ صحابه رضوان الله علیهم اجمعين ، یا دَ تابعینو رحمة الله علیهم په زمانوکې وو اوکه نه ؟ ....اهـ

اونور هم په دې سؤال کې یوڅه فقرې ذکرشوي دي ، خوكله چې هغه رسوم اکثر د بریلوي طبقې په رواجونو کې وو ، نو موږ له هغو څخه صرف النظر وکړو ، خو اوس به راشو دې ته چې مفتی صاحب دَ موجوده فقرو په جواب کې څه لیکلي دي .

الجواب : د میلاد مجالس مروجه په شریعت مقدسه کې ثابت نه دي ، په قرون ثلاثه مشهود لها بالخیر کې دَ دې هیڅ وجود نه وو ، اونه دَ دې په حواله کې کوم روایت

نقل شوی دي ، او نه دَ اصول شرعيه څخه د دي ثبوت سته . اِنّ عمل المولد بدعة لم يقل به ، ولم يفعله رسول الله صلي الله عليه وسلم ، والخلفاء ، والائمة ، كذا فی الشرعية الالهية بحواله راه سنت ص (١٦٤) انتهی باختصار صـ (٢١١).

او بيا په صـ (٢١٤) کې يې داسې ليکلي دي : کوم څوک چې دا مسئلې دَ وهابيانو بولي ، هغه خو يا جاهلان دي ، او يا قصداً عوامو ته دهوکه ورکوي . [كفاية المفتي ج (١) صـ (٢١٤)]

دَ هغو علما ؤ خبره چی دا عمل ئی جا ئز بللي ده :

اوس که څه هم موږ په حواله دَ فتاوی دارالعلوم زکريا يوڅو مجملې حوالې هم ورکړې خو دَ تفصيل د پاره موږ په دونه قدرکتابونو اکتفاء کوو کوم چې موږ ئې تفصيل د عباراتو رانقل کړي ، او هغه څه ذکر کوو چا چې پرکوموعلماؤ او د هغو پر کتابونو د دي عمل دَ جواز حواله ورکړې ده ، او دا عمل يې بدعت حسنه بللي دي، ، او دا دری (٣) داسي کتابونه دي چې دَ هغو عباراتو ته په غوره کتل په کاردي ،څو چې د مسئلې حقيقت معلوم شي .

اول : ابن العابدين الشامی دي چې ده په خپل مشهور کتاب رد المحتارکې داسې ليکلي دي:

تنبيه في المعراج وقد صَحّ عن رسول الله صلي الله عليه وسلم أنه قال أفضل الأيام يوم عرفة أذا وافق يوم جمعةٍ ، وهو أفضل من سبعين حجة ذكره في تجريد الصحاح بعلامة الموطأ اه ، وسيأتي الكلام عليه أخر الحج ، ونقل عن بعض الشافعية أَنّ أفضل الليالي ليلة مولده صلي الله عليه وسلم ، ثم ليلة القدرثم ليلة الإسراء والمعراج ، ثم ليلة عرفة ، ثم ليلة الجمعة ، ثم ليلة النصف من شعبان ، ثم ليلة العيد .

اوس که يو څوک له انصافه کارواخلي ، اودَ العلامة الشامي پر دې قول نظر وکړی ، نو له يوې خوا خو دا قول زموږ دَ مذهب دَ علماؤ نه بلکه دَ شوافعو دَ بعضو علماؤو

قول دي ، او پخپله د امام الشافعي رحمه الله قول هم نه دي بلکه د ده مذهب د يوعالم قول دي ، او هغه هم معروف عالم نه ، بلکي په لفظ د بعض ذکرشوي دي ، اوسربيره پردې دا نقل په [عن] سره دي ، او نقل په [عن] سره مذهب د هغه چا نه بلکې يو روايت وي له هغه چا څخه ، او روايت په مقابل دَ مذهب کې مرجوح وي ، اوعمل په مرجوح قول باندي په وخت د وجود د راجح کې قابل د اعتبارنه دي .

العلامه محمد علاء الدين الحصكفي په درالمختار کې چې پرحاشيه دَ رد المحتارپروت دي په صـ (٥٥) کې داسې ليکلي دي : و اَنّ الحكم والفتيا بالقول المرجوح جهل وخرق للاجماع ...اهـ ،

وقال العلامه الشامي تحت هذه العبارة : قال العلامه الشرنبلالي في رسالته العقد الفريد فی جواز التقليد : مقتضى مذهب الشافعي کما قال السبكی منع العمل بالقول المرجوح فی القضاء والافتاء دون العمل لنفسه ، ومذهب الحنفية المنع عن المرجوح حتى لنفسه لکون المرجوح صار منسوخاً اهـ [.فتاوي الشامي المجلد (١) صـ(٥٥)]

اوس کله چې دا معلومه شوه چې بدعت پر دوه قسمه دي ، یو بدعت شرعي دي ، هغه هیڅکله تقسیم نه قبلوي ، او یو بدعت په معنی لغوي دي ، او فقهاؤ چې کوم تقسیم کړي دي . هغه تقسیم دَ بدعت په معني لغوي سره دي ، نو هر هغه څه چې علامه الشامي او یا ملا علی بن سلطان محمد القاري ، او نورو علماؤ بدعات حسنه بللي دي هغه په حقیقت کې سنت دي ، خود بعضو وجوهاتو په وجه بدعت په معني لغوي سره ورته ویلي شوي دي. لکه چې د هغه ټولو شیانو د سنت بللو اثبات په دې طریقې سره مخکې شوي دي : اوهمدارنګه ده ابراهیم علیه السلام مناظره له نمرود او نمرودیانو سره الله جَلَّ جلاله په دې أیتونو کې نقل کړی ده : وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ إِبْرَاهِيمَ (٦٩) إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَا تَعْبُدُونَ (٧٠) قَالُوا نَعْبُدُ أَصْنَامًا فَنَظَلُّ لَهَا عَاكِفِينَ (٧١) قَالَ هَلْ يَسْمَعُونَكُمْ إِذْ تَدْعُونَ (٧٢) أَوْ يَنْفَعُونَكُمْ أَوْ يَضُرُّونَ (٧٣) قَالُوا بَلْ وَجَدْنَا آبَاءَنَا كَذَلِكَ يَفْعَلُونَ (٧٤) قَالَ أَفَرَأَيْتُمْ مَا كُنْتُمْ تَعْبُدُونَ (٧٥) أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمُ الْأَقْدَمُونَ (٧٦) فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِي إِلَّا رَبَّ الْعَالَمِينَ (٧٧) الَّذِي خَلَقَنِي فَهُوَ يَهْدِينِ (٧٨) وَالَّذِي هُوَ يُطْعِمُنِي وَيَسْقِينِ (٧٩) وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ (٨٠) وَالَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحْيِينِ (٩١) وَالَّذِي أَطْمَعُ أَنْ يَغْفِرَلِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ (٨٢) رَبِّ هَبْ لِي حُكْمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ (٨٣) .

قوله : (وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ إِبْرَاهِيمَ) الّذى يفتخرون به ، مع كونه مستهزئاً بِأَبيه ، وعقلاء قومه : (إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ) تسفيهاً لهم (مَا تَعْبُدُونَ (٧٠) قَالُوا نَعْبُدُ أَصْنَامًا) عبادة طويلةً (فَنَظَلُّ لَهَا) اَىْ ندوم لعبادتها طول النهار(عَاكِفِينَ) اَىْ مقيمين ، اطالوا الجواب تَبَجُّعاً وافتخاراً :(قَالَ هَلْ يَسْمَعُونَكُمْ) اَىْ دعاؤكم فى ساعة من ساعات النهار: (إِذْ تَدْعُونَ (٧٢) أَوْ يَنْفَعُونَكُمْ) فى وقت من الاوقات لو عبدتموها هذه العبادة

الطويلة :(أَوْ يَضُرُّونَ) لكم فى وقت من الاوقات لو تركتم هذه العبادة :(قَالُوا) لم نجد شيئاً من ذلك(بَلْ وَجَدْنَا آبَاءَنَا كَذَلِكَ يَفْعَلُونَ) ولم لم نجد لهم فعلاً يخلو عن فائدة ، فنحن وإنْ لم نطلع عليها فلا بُدَّ منها: (قَالَ) تعتقدون الفائدة فى عبادتها من غيرتعيين لها (أَفَرَأَيْتُمْ) عبادة (مَا كُنْتُمْ تَعْبُدُونَ أَنْتُمْ) فلم تجدوا تلك الفائدة بعينها مُدةَ اعماركم (وَآبَاؤُكُمُ الْأَقْدَمُونَ) ، ايضاً لم يجدوها مُدةَ اعمارهم ، والا لَبَيّنُوا لكم ، وقد ظهرلى فيها الضرر، اذ فيها عداوة رَبّ العلمين ، فعكست الامر: (فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِي إِلَّا رَبَّ الْعَالَمِينَ) فَاِنَّ عبادته لولم تكن نافعةً فهى واجبة على شكرنعمة الخلق اذ هو: (الَّذِي خَلَقَنِي) على اَنَّ شكره مستوجب للمزيد ، ولا زيادة من جنس الخلقة ، اذ هو تحصيل الحاصل فهومما يتعلّق بالخالق (فَهُوَ يَهْدِينِ (٧٨) ولم يقتصرعلى الانعام بالخلق ، بل اَنْعم باَسباب البقاء اذهو (الَّذِي هُوَ يُطْعِمُنِي وَيَسْقِينِ (٧٩) وَإِذَا مَرِضْتُ) باَحدهما فانقلب سبب البقاء سبب الفناء(فَهُوَ يَشْفِينِ) فينقب الفناء بقاءً (وَ) لايبعد اذ منه ، اذ هو (الَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحْيِينِ) فَاِنْ لم يُفدنى الشكرفى الدنيا مزيداً ، يُفدنى فى الاخرة (وَ) اقل فوائده فى الاخرة غفران الخطيئة فهو(الَّذِي أَطْمَعُ أَنْ يَغْفِرَ لِي خَطِيئَتِي) وهى كلماته الثلاثة ، اِنّىْ سَقِيْم، بَلْ فَعَلَ كَبِيْرُهُمْ، ولسارة هى اُختى ، وكونها معاريض لاينافى ذنب فعله حاله ، لِمَا فيها من التلبيس فيقتضى اَنْ يجازى به (يَوْمَ الدِّينِ) ، ولَمّا أثر مُحبة الحق ، وعداوة الاصنام قال:(رَبِّ هَبْ لِي حُكْمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ (٨٣)) الايات .

وايضاً فى تقريرهذه الحجة قال صاحب اللباب : تقرير هذه الحجة التي ذكرها إبراهيم عليه السلام - أنّ مَنْ عَبَدَ غيره لا بُدّ أَنْ يلتجىء إليه في المسألة لِيعرف مراده أو يسمع دعاءه ، ثم يستجيب له في بذل منفعة أو دفع مضرة ، فقال لهم : إذا كان الذي تعبدونه لا يسمع دعاءكم حتى يعرف مقصودكم ، ولو عرف ذلك لَمَا صَحّ أَنْ يبذل النفع أو يدفع الضرر ، فكيف تعبدون ما هذا صفته ؟ فعند هذه الحجة الباهرة لم يجدوا ما

یدفعون به حجته إلا التقلید. فقالوا :﴿وَجَدْنَآ آبَآءَنَا كَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ ﴾.قوله :﴿فَرَأَيْتُمْ مَّا كُنْتُمْ تَعْبُدُونَ أَنتُمْ وَآبَاؤُكُمُ الأَقْدَمُونَ ﴾ أراد به أَنَ الباطل لا یتغیر بأن یکون قدیماً أو حدیثاً ، ولا بأَنْ یکون في فاعلیه کثرة أو قلة .انتهی بالاختصار.

اوس د دې دواړو تفسیرونو له دې تفسیره دا واضح معلومه شوه چې د دواړو نبیانو د خپل وخت د باطل فرستانو باطلي طریقی رد کړي دي ، نو پر باطلو دلو رد یواځې دا نه چې د نبی ﷺ سنت بلکې د ټولونبیانو علیهم السلام سنت دي ، او دا لا څه چې د انبیاؤ عملی سنت دي ، بلکې زموږ نبي ﷺ ته الله ﷻ حکم کړی دي چې پر اهل باطل د هرچا د بطلان پراندازه رد وکړئ لکه څنګه چې الله تعالی په سورة نحل الایة (۱۳۵) کې فرمایي .

ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ (١٢٥)

اوس که چیرته موږ د دې أیة کریمه پر تفسیر د علامه الألوسی د تفسیر له نګاه یوڅه نظر واچوو نو ان شاء الله دا به واضح شي چې الله ﷻ په دې أیة کریمه کې خپل خوږ پیغمبر ﷺ ته څه فرمایلي دي ، څوچې مقصد ښه واضح شی .

قوله :{ أُدْعُ } أي من بُعِثْتَ إليهم من الأُمّة قاطبةً قوله :{ إلى سَبِيلِ رَبّكَ } إلى الإسلام الذي عبر عنه تارة بالصراط المستقیم وأخرى بملة إبراهیم علیه السلام.{ بالحكمة } بالمقالة المحكمة وهي الحجة القطعیة المزیحة للشبه؛ وقریب من هذا ما في «البحر» أنها الكلام الصواب الواقع من النفس أجمع موقع {والموعظة الحسنة } وهي الخطابات المُقْنِعة والعِبَر النافعة التي لا یخفى علیهم إنّك تُنَاصحهم بها {وجادلهم } ناظر معاندیهم { بالتى هِىَ أَحْسَنُ } بالطریقة التي هي أحسن طُرُق المناظرة والمجادلة من الرفق واللین واختیار الوجه الأیسر واستعمال المقدمات المشهورة تسكیناً لشغبهم وإطفاءً للهبهم كما فعله الخلیل علیه السلام . وَاسْتَدَلَ [كما قیل] أربابُ المعقول بالآیة على أنَ المعتبر في الدعوة من بین الصناعات الخمس إنما هو البرهان والخطابة والجدل حیث اقتصر في الآیة على ما یصیر إلیها ، وإنما تفاوتت طرق دعوته علیه الصلاة والسلام لتفاوت مراتب الناس ،

فمنهم خواص وهم أصحاب نفوس مشرقة قوية الاستعداد لإدراك المعاني قوية الانجذاب إلى المبادىء العالية مائلة إلى تحصيل اليقين على اختلاف مراتبه وهؤلاء يدعون بالحكمة بالمعنى السابق .

ومنهم عوام أصحاب نفوس كدرة ضعيفة الاستعداد شديدة الألف بالمحسوسات قوية التعلق بالرسوم والعادات قاصرة عن درجة البرهان لكن لا عناد عندهم وهؤلاء يدعون بالموعظة الحسنة بالمعنى المتقدم .

ومنهم من يعاند ويجادل بالباطل ليدحض به الحق لما غلب عليه من تقليد الأسلاف ورسخ فيه من العقائد الباطلة فصار بحيث لا تنفعه المواعظ والعبر بل لا بد من إلقامه الحجر بأحسن طرق الجدال لتلين عريكته وتزول شكيمته وهؤلاء الذين أُمِر ﷺ بجدالهم بالتي هي أحسن ،

وإنما لم تعتبر المغالطة والشعر لأن فائدة المغالطة تغليط الخصم والاحتراز عن تغليطه إياه ومرتبة الرسول عليه الصلاة والسلام تنافي أن يغلط وتتعالى أن يغلط ،

والشعر وإن كان مفيداً للخواص والعوام فإن الناس في باب الإقدام والإحجام أطوع للتخييل منهم للتصديق إلا أن مداره على الكذب ومن ثمة قيل : الشعر أكذبه أعذبه فلا يليق بالصادق المصدوق كما يشهد به قوله تعالى : { وَمَا علمناه الشعر وَمَا يَنبَغِي لَهُ } [يس : ٦٩].

وقد ذهب غير واحد إلى أَنَّ فيها إشارة إلى تفاوت مراتب المدعوين إلا أنه خالف في بعض ما تقدم ، ففي «الكشف» بعد أَنْ ذكر أَنَّ كلام الزمخشري يدل على أنه عليه الصلاة والسلام ينبغي أَنْ يجمع في الدعوة بين الثلاث فيكون الكلام في نفسه حسن التأليف منتجاً لما علق به من الغرض ومع ذلك مقصوداً به المناصحة لمن خوطب به ويكون المتكلم حسن الخلق في ذلك معلماً ناصحاً شفيقاً رفيقاً ما نصه : والأحسن على ما ذهب إليه المحققون أنه تعميم للدعوة حسب مراتب المدعوين في الفهم والاستعداد ، فمن دعي بلسان الحكمة ليفاد اليقين العياني أو البرهاني هم السابقون ، ومن دعي بالموعظة الحسنة وهي الإقناعات الحكمية لا الخطابات المشهورة طائفة دون هؤلاء ،

ومن دعي بالمجادلة الحسنة هم عموم أهل الإسلام والكفار أيضاً اه ، ولا أرى ما يوجب نفى أن يكون المراد بالموعظة الحسنة الخطابات المشهورة ، وكونها مركبة من مقدمات مظنونة أو مقبولة من شخص معتقد فيه ولا يليق بالنبي ﷺ استعمال الظنيات أو أخذ كلام الغير والدعوة به هو الموجب لذلك لا يخفى ما فيه فتدبر. { إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِ } الذي أمرك بدعوة الخلق إليه وأعرض عن قبوله . قوله :{ وَهُوَ أَعْلَمُ بالمهتدين } إليه وهو تعليل لِمَا ذكر أولاً من الأمرين كأنه قيل : اسلك في الدعوة والمناظرة الطريقة المذكورة وما عليك غير ذلك ، وأما حصول الهداية والضلال والمجازاة عليهما فإلى الله سبحانه لا إلى غيره إذ هو أعلم بمن يبقى على الضلال وبمن يهتدي إليه فيجازي كلاً منهما ما يستحقه كذا قيل . واعترض بأن دلالة الآية على المجازاة مسلمة وأما أن حصول الهداية والضلالة ليس لغيره تعالى فالآية لا تدل عليه أصلاً . وأجيب بأنه إذا انحصر علم الهداية والضلالة فيه تعالى علم أنه لا يكون لغيره سبحانه علمهما فكيف يكون له حصولهما فالقول بعدم دلالة الآية على ذلك غير سديد . تفسير روح المعانى بالاختصار من شاء الاطلاع التام فليراجع الى هناك .

او همدارنگه په دې أية كريمه كى الله ﷻ فرمايي :

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ (٧٣)

{ يأيها النبى جاهد الكفار والمنافقين } ظاهره يقتضي مقاتلة المنافقين وهم غير مظهرين للكفر ولا نحكم بالظاهر ، ولذا فَسّر ابن عباس . والسدى . ومجاهد جهاد الأولين بالسيف والآخرين باللسان وذلك بنحو الوعظ والزام الحجة بناء على أن الجهاد بذل الجهد في دفع ما لا يرضى وهو أَعَمْ مِنْ أَنْ يكون بالقتال أو بغيره فإن كان حقيقة فظاهر والأحْمَل على عموم المجاز. تفسير روح المعانى بالاختصار.

وقال الفخرالرازى تحت هذه الاية بعد ما ذكر القولين المرجوحين عنده : والقول الثالث : وهو الصحيح اَنّ الجهاد عبارة عن بذل الجهد ، وليس فى اللفظ ما يدلُ على اَنّ ذلک الجهاد بالسيف اواللسان اوبطريق أخر، فنقول :اَنّ الاية تدَلُ على وجوب الجهاد مع الفريقين ، فاَمّا كيفية تلک المجاهدة ، فلفظ الاية لا يدَلُ عليها ، بل اِنّما

يُعرف من دليل أخر، واذا ثبت هذا فنقول : دَلّت الدلائل المنفصلة على اَنّ المجاهدة مع الكفاريجب اَنْ تكون بالسيف ، ومع المنافقين باِظهارالحجة تارةً ، وبترک الرفق ثانياً ، وبالانتهار ثالثاً اهـ.

اوس دا خبره معلومه شوه چې رد پر مخالفو دلو بدعت نه بلکې د قرأن حکم ، اود ټولو انبياؤ سنت ، او بيا زموږ د رسول الله ﷺ خاصه طريقه او دائم سنت وُو .

دا فصل په بيان د مدرسو جوړولو کې دي :

اوبيا وروسته ئې په تقسيم د بدعت کې داسې ليکلي دی: واِمّا مندوبة کاحداث الرباط والمدارس ، وکُل احسان لم يُعهد فی الصدرالاول اهـ ـ اوس موږ پردې خبره بحث کوو ،چې ايا مدرسې جوړول روښتيا هم داسی بدعت دي چې د رسول الله ﷺ له زمانې ، او د خلفاؤ الراشدينو له زمانې وروسته پيدا شوی دي ، خودا يوښه کار وشو، ځکه چې د دين ساتنه پري وشوه ، او که دا هغه عمل دي چې د رسول الله ﷺ په اولو کارونو کې حسابول کيږی او د رسول الله ﷺ له دعوت سره سم شروع شوي دي .

اول به موږ پردې خبره نظر وکړو چې د مدرسې حقيقت څه شي دي ، نو که موږ ځيرشو نو موږ دا ويلای شو چې مدرسه څلور رکنونه غواړي ، اول د ځای تعيين ، دويم اُستاذ ، دريم شاګردان ، اوڅلورم نصاب درس ، نواوس به وګورو چې رسول الله ﷺ په مکی زندګي کې يو د روزنې مرکز اوتعليمی درسګاه درلوده او که نه .

علامه عنايت الله د خپل کتاب [سرورکائنات] نومي سيرت کې د يو تفصيلي بحث په پای کې داسې ليکلي دي : نو د عقل اوحکمت کار دا وو چه دغسی ټولنې په پټه او سری ډول سره وشی ، اکثر اصحاب کرامو خپل اسلام پټاوه ، عبادت دعوت او ټولنې ئې په پټه کولې ، مګر رسول الله ﷺ په ښکاره سره دعوت کاوه ، خپل عبادت يې د مشرکانو په حضور او د هغو په مابين کې کاوه ، هيڅا او هيڅ شی له دې کاره څخه نه شوی منع کولای ، فقط له مسلمانانو سره يې يو ځای کېدل اوټولنه تعليم اوتبليغ په پټه وي ، دا هم د دوی او د اسلام د مصلحت لپاره وو ، نو د ارقم بن ابی الارقم کور چې د صفا پر

غونډۍ وُو ، او د مشرکانو له سترګو او د مجلس له ځایه ګوښه اوښام وو ، رسول الله ﷺ دغه کور دَ دعوت مرکز او دَ مسلمانانو د اجتماع ، تعلیم او تولنې ځای ګرزولی وو ، ارقم بن ابی الارقم چې نوم يې عبدمناف بن اسد دي او قريش دي لسم نفر دي چې مسلمان سوی دي !! د سرورکائنات ژوند جلد اول ص (١٨٨).

اوهمدارنګه مولانا صفی الرحمن مبارکپوری په [الرحيق المختوم] نوم کتاب کې تر دې عنوان لاندی (دارالارقم _د ارقم کور) داسې ليکلي دي : د حکمت تقاضا او غوښتنه دا وه ، چې رسول الله ﷺ خپلو اصحابو رضوان الله عليهم اجمعين ته هدايت ورکړی وو. چې خپل اسلام پټ وساتي ، او هم دا راز له هغو سره ئې خپل ليدل کتل هم په پټه ترسره کول ، ځکه هغه پوهيده که چېرې دوی په ښکاره توګه سره غونډ شی نو مشرکان به مخالفت کوي ، اوپرې به نږدي چې دَ الله رسول ﷺ خپل اصحاب و رُوزی ، اودَ الله کتاب او احکام ور زده کړي [اوبيا د يوې خاصې واقعې له ذکرکولو وروسته ئې داسې ويلي دي] : او څرنګه چې دَ ارقم بن ابی الارقم المخزومی کور دَ صفا پرغونډۍ او دَ مشرکينو له نظره ګوښه پروت وُو ، نو رسول الله ﷺ هم دغه ځای له مسلمانانو سره دَ غونډو دَ پاره مناسب وبالو، اودَ نبوت له پنځم کال څخه يې هم دا کور دَ خپل دعوت مرکزوټاکي! الرحيق المختوم المترجم فی البشتو،ص (١٦٦ و١٦٧).

وقال فی اصل هذا المترجم بالعربی تحت هذا العنوان [[دار الارقم]] : كانت هذه الدار فی اصل الصفا ، بعيدة عن اعين الطغاة ، ومجالسهم ، فاختارها رسول الله ﷺ ليجتمع فيها بالمسلمين سِراً ، فيتلو عليهم أيات الله و يُزَكِّيهم ويُعَلِّمُهم الكتاب والحكمة ، وليُؤَدّی المسلمون عبادتهم واعمالهم ، ويَتَلَقّوا ما انزل الله على رسوله ، وهم فی امنٍ وسلامٍ ، وليدخل من يدخل فی الاسلام ولا يعلم به الطغاة من اصحاب السطوة والنقمة اهـ الرحيق المختوم ص (٩٧).

نواوس چې کله دا معلومه شوه ، چې د ارقم بن ابی الارقم کور ځای ټاکل شوی وو ، او رسول الله ﷺ په خپله اُسْتاذ او اصحاب کرام شاګردان او قرأن کريم د تعليم نصاب مقرر سوی وو نو ايا دې ته مدرسه نه ويل کيږی ؟ بلکه دادې د رسول الله ﷺ په افتکار

د دريو جوړو شويو مدرسو څخه اوله مدرسه ده، او د نورو دوو مدرسو بیان په پسی را روان دي ان شاء الله ، نواوس موږ دا ویلای شو چې رسول الله ﷺ دَ خپل نبوت په پنځم کال چې دَ دعوت دَ شروع دوه کاله پوره کیږی نو زموږ په اصطلاح سره نهاریه مدرسه دَ اصحاب کرامو دَ پاره خلاصه کړه څو چې دلته په پټه توګه اصحاب کرام را ټول سی اودَ دین زدکړه وکړي لکه په مخ کې چې د دوو کتابونو له عباراتو معلومه سوه ، نواوس موږ دا ویلای شو چې دَ مدرسی جوړول بدعت نه بلکه دَ رسول الله ﷺ دَ کارونو په سر کې يي ځای نیولی وو .دا خو دَ رسول الله ﷺ دَ مدرسې دَ تاسیس اول پړاو وو .

اوس به موږ راشو د رسول الله ﷺ د یو بلې نهاریه مدرسې افتکار او د مسلمانانو پر اولینه او ضروری غوښتنه به نظر واچوو ، اوهغه دا چې کله دَ نبوت په دولسم کال دَ حج په موسم کې رسول الله ﷺ د مدینې منورې له خلګوسره دَ العقبة الأُولی بیعت وکړ ، نو بیا رسول الله ﷺ له دوی سره دَ دوی په غوښتنه مصعب بن عُمیر ﷺ د قرأن کریم او د نورو ضروری احکامو د زده کولو د پاره د مُعَلّم اوأُستاذ په صفت له دوی سره ولیږی ، او هغه چې کله مدینې منورې ته ورسیدی ، نوهلته دَ اسعد بن زراره ﷺ په کور کې أُوسیدئ ، چې دا دَ رسول الله صلي الله علیه وسلم و مدینی منوری تر ورتلو یو کال له مخه ، رسول الله ﷺ دویمه نهاریه مدرسه په مدینه منوره کې خلاصه کړه .

قال الشيخ صفی الرحمن مبارکپوری فی الرحیق المختوم تحت هذا العنوان : [[سفیر الاسلام فی المدینة]] : وبعدَ اَنْ تَمّت البیعة وانتهی الموسم بعث النبی ﷺ مع هؤلاء المبائعین اول سفیر فی یثرب ، لِیُعَلّم المسلمین فیها شرائع الاسلام ، ویُفَقّهُهُمْ فی الدین ، ولیقوم بنشرالاسلام بین الّذین لم یزالوا علی الشرک ، واختار لهذه السفارة شاباً من شباب الاسلام من السابقین الاولین ، وهومصعب بن عُمَیرالعبدری اه .الرحیق المختوم ص (١٣٩ و ١٤٠).

لکه چې علامه الشبلی ((النعمانی)) دَ خپل [سیرة النبی] نوم کتاب کې داسې لیکلي دي : په دوهم کال له مدینې منورې څخه دولس تنه راغلو ، اوبیعت ئې وکړ، دوی له بیعت کولو سره سم دا غوښتنه هم وکړه چې باید دَ اسلامی احکامو دَ ښوولو دَ پاره

مور، ته يو معلم راکړل شی ، نو رسول الله ﷺ مصعب بن عُمَير نومي صحابي ددې کار دپاره وټاکی ، مصعب بن عُمَير دَ هاشم دَ لمسي زوی ، او له هغو خلکو څخه وو . چې ډير له مخه مسلمان شوی وو ، دی چې کله مديني منورې ته راغی ، نو دلته دَ مديني منورې دَ يو ډير عزتمن رئيس اسعد بن زرارة په کور کې اوسيدی اهـ [سيرة النبى جلد (١) ص (١٨٣)]

او ابن جوزی په خپل (الوفا باحوال المصطفى) نوم کتاب کې دا سې ليکلي دي : فلَمّا کان من العام المقبل قَدِمَ من الانصاراثنا عشر رجلاً ، فلَقُوه بالعقبة ، [ثُم ذکراسمائهم ، ثُم قال] فلَمّا انصرفوا عن رسول الله ﷺ بعث معهم مصعب بن عُمَيرالى المدينة يُفَقّهُ اهلها ويُقرئهم القران .[الوفا - ج (١) - ص = (٢١٨)]

او همدارنګه محمد بن سعد بن منيع الزهری په خپل [الطبقات الکبرى]نوم کتاب داسې ليکلي دي : ثُم انصرفوا الى المدينة فَاَظهرالله الاسلام ، وکان اسعد بن زُرارة يجمع بالمدينة بمن اسلم ، وکتب الاوس والخزرج الى رسول الله ﷺ: ابعث لنا مُقْرِئاً يُقْرِئُ لنا القرأن ، فبعث اليهم مصعب بن عُمَيرالعبدری ، فنزل على اسعد بن زُرارة فکان يُقْرِئُهم القرأن ، فروى بعضهم اَنہ مصعباً کان يجمع بهم !! الطبقات الکبرى المجلد الاول الصفحة (١٠٦) .

وفى صحيح البخارى قال: حدثنا عبدان قال أخبرني أبي عن شعبة عن أبي إسحاق عن البراء ﷺ قال : أول من قدم علينا من أصحاب النبي ﷺ مصعب بن عمير وابن أم مکتوم فجعلا يقرئاننا القرآن ثم جاء عمار وبلال وسعد ثم جاء عمر بن الخطاب في عشرين ثم جاء النبي ﷺ فما رأيت أهل المدينة فرحوا بشيء فرحهم به حتى رأيت الولائد والصبيان يقولون هذا رسول الله قد جاء فما جاء حتى قرأت {سبح اسم ربك الأعلى } في سور مثلها ، صحيح البخارى الجلد الثانى صفحة () وفى بعض الروايات : وسوراً من المفصل اهـ .

نوکله چې براء بن عازب ﷺ دا وېلي دي چې ما دَ رسول الله ﷺ تر راتلو له مخه سورة الاعلى او دَ هغه په مثل نور يو څو سورتونه ياد کړی وو ، نو دا معلومه شوه چې هلته د

رسول الله ﷺ تر راتلو له مخه لا د قرأن کریم ورښوول او زده کول وو ، اُستاذ او شاګردان وُو ، دَ درس او تدریس نصاب وُو ، بلکه معلومه درسګاه هم وه ، بس نو هم دغو څلورو ارکانو ته مدرسه ویلای شو . لکه له مخه چې مونږ دا خبره وکړه .

اوس دا خبرمعلومه شوه که چیرته په مدینه منوره کې دا په اصطلاح سره نهاریه مدرسه دَ رسول الله ﷺ په افتکار . اودَ انصارو په غوښتنه نه وای خلاصه شوي نو بیا له کومې خوا براء بن عازب ﷺ ته دا موقع برابریده چې دَی له مخه تر راتلو د رسول الله ﷺ سورة الاعلی یا نور امثال دَ هغه زده کړی ، اوس چې کله دَ دویم پړاو دَ نهاریه مدرسې هم ثبوت وشو .

نواوس مونږ راځو . د هغو مدرسو خوا ته چې رسول الله ﷺ پخپله جوړی کړي دي ، او بیا داسې وایو . دریم پړاو اوهغه مدرسه چې په اصطلاح لیلیه مدرسه ورته ویل کیږي د هغې بیان کوو ، او هغه دا چې الحاج مولوی عنایت الله دَ خپل (دَسرورکائنات ژوند) نوم کتاب کې تردې عنوان [دَنوي تولني جوړول] لاندې داسې لیکلي دي : کله چې رسول الله ﷺ د جمعې په ورځ د هجرت په اول کال دَ ربیع الاول دَ میاشتي په دوولسم تاریخ چې دَ میلادی (٦٢٢) کال دَ سپتمبر دَ میاشتی دَ (٢٧) تاریخ سره برابره وه ، په مدینه منوره کې د بنی النجار په منطقه کې دَ ابو ایوب الانصاری ﷺ د کور مخ ته له خپلې اوښې څخه کښته شو . او وفرمایل : ان شاء الله منزل ،یا د استوګنې ځای دلته دي ، او بیا دَ ابو ایوب انصاری ﷺ وکورته ولاړئ . او اول هغه کارچې رسول الله ﷺ د هغه په عملي کولو شروع وکړه . هغه پر هغه مځکه چې چېري اوښه پرېوتلې وه ، دَ مسجد جوړول وه . او دغه مځکه یې دَ هغې له مالکانو چې دوه یتیمان وو. هغه یې ورڅخه واخستله .

[او بیا چې کله صاحب الکتاب دَ مسجد دَ جوړولو کیفت بیان کې له هغه وروسته یې دَ مسجد په رابطه داسې وویل]: چې دا مسجد یواځې د لمانځه د اداء کولو ځای نه وه ، بلکې یوه مدرسه او یا یو پوهنتون وو ، چې مسلمانانو هلته اسلامی تعلیمات زده کول ، او مسجد دَ هغه مجلسو ځای وو. چې هلته به مختلفې قبیلې پخلا کېدې کوم چې دَ جاهلیت له وختو څخه ئې نفرت او نزاع ، جنګ او جدل په مابین کی پاته وُو ، او مسجد

دَ اسلامی شئونو دَ اداري ځای وُو ، او مسجد لکه دَ نن ورځې پارلمان هلته مشورتي اوتنفیذي مجلسونه کېدو ، پر دې تولو سربېره مسجد دَ هغو فقیرانو مهاجرینو کور او استوګن ځای هم وو. چې نه یې کور درلودی نه آهل ، نه یې اولاد درلودی نه قوم ،

لکه څنګه چې ابن سعد په خپل [الطبقات الکبری]نوم کتاب کې لیکلي دي :عن یزید بن عبد الله بن قُسَیط قال : کان اهل الصُّفّة ناساً من اصحاب رسول الله ﷺ ، لا منازل لهم ، فکانوا ینامون علی عهد رسول الله ﷺ فی المسجد ، ویظلّون فیه ما لهم مَاْوی غیره ، فکان رسول الله ﷺ ، یدعوهم الیه باللیل اذا تَعَشّی فیُفَرّقهم علی اصحابه ، وتعَشّی طائفة منهم مع رسول الله ﷺ ، حتی جاء الله تعالی بالغنی ، [الطبقات الکبری لابن سعد] الجلد (١) ص (١٢٣).

وایضاً قال الشیخ صفی الرحمن مبارکپوری فی الرحیق المختوم بعد ما بین ما مضی فی بناء المسجد : ولم یکن المسجد موضعاً لاداء الصلاة فحسبُ ، بل کان جامعةً یَتَلقّی فیها المسلمون تعالیم الاسلام وتوجیهاته اهـ الرحیق المختوم ص (١٧٤)

وقال الله تعالی : (لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُحْصِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِي الْأَرْضِ) الایة سورة البقرة الایة (٢٧٣) قال الاُلوسی فی التفسیر: وهم أهل الصفة رضي الله تعالى عنهم ، قال ابن عباس ومحمد بن كعب القرظي وكانوا نحواً من ثلثمائة ويزيدون وينقصون من فقراء المهاجرين يسكنون سقيفة المسجد يستغرقون أوقاتهم بالتعلّم والجهاد وكانوا يخرجون في كل سرية يبعثها رسول الله ﷺ

وایضاً قال البیضاوی { للفقراء } متعلق بمحذوف أي اجعلوا ما تنفقونه للفقراء أو صدقاتكم للفقراء {الذين أحصروا في سبيل الله } أحصرهم الجهاد { لا يستطيعون } لاشتغالهم به { ضربا في الأرض } ذهابا فيها للكسب وقيل هم أهل الصفة كانوا نحواً من أربعمائة من فقراء المهاجرين يسكنون صفة المسجد يستغرقون أوقاتهم بالتعلُّم والعبادة وكانوا يخرجون في كل سرية بعثها رسول الله ﷺ.

نو اوس چې له یوې خوا دا معلومه شوه چې دا مسجد یواځې د لمانځه ځای نه بلکې یوه مدرسه هم وه ، او له بلې خوا دَ علامه اُلوسی او قاضی البیضاوی دواړو له تفسیره

دا هم معلومه شوه چې اصحاب الصفة په سقیفة د دې مسجد کې دَ تَعَلّم او جهاد دَ پاره اوسیدل ، نو په دې وجه دوي دَ خپل معیشت او ژندګي دَ پاره څه نه درلودل ، او دَ ابن سعد له روایته دا هم معلومه شوه چې رسول الله ﷺ او نورو اصحابو دَ رسول الله ﷺ دَ دوي دَ خوړلو دَ پاره دَ خپل توان مطابق څه شي برابرول ، نو دا بالکل واضح شوه چې دا دې رسول الله ﷺ دَ وخت یوه په اصطلاح لیلیه مدرسه وه ، چې د هغه وخت په تولو کارونو کې ئي لومړی ځای نیولي وو .

دا فصل د تراویحو په بدعت یا سنت بللوکې دي :

اوبیا د صاحب المرقاة په عباراتو کې چې د تراویحو په رابطه د هلته دا سې لیکلي دي :وکُلُّ احسان لم یُعهد فی الصدرالاول ، کالتراویح اَیْ بالجماعة العامة ، یعنی تراویح د ټولو خلکو په جماعت سره اداء کول دا بدعت دي ولی چې حضرت عُمَر ﷺ بدعت بللې دي .

نو اوس به مونږ اول دا وګورو چې ایا تراویح روښتیا هم بدعت دي ، خو لکن حسنه بدعت دي . نو په دې وجه سبب د ثواب ګرځیدلی دي ، او که دا د رسول الله ﷺ سنت دي ، خو عُمر ﷺ بدعت په یو بله معنی ورته ویلي دي ،

وفی صحیح البخاری :وعن ابن شهاب عن عروة بن الزبیر عن عبد الرحمن بن عبد القاري أنه قال :خرجت مع عمر بن الخطاب ﷺ لیلةً في رمضان إلى المسجد فإذا الناس أوزاع متفرقون یصلي الرجل لنفسه ویصلي الرجل فیصلي بصلاته الرهط فقال عمر إِنِّي أَرى لو جمعتُ هؤلاء على قارئ واحد لكان أمثل ثم عَزَمَ فجمعهم على أُبَيْ بن كعب ثُمَّ خرجتُ معه لیلةً أُخْرى والناس یصلون بصلاة قارئهم قال عمر نعم البدعة هذه والتي ینامون عنها أفضل من التي یقومون یرید أخر اللیل وكان الناس یقومون أوله .

وایضاً قال : حدثنا یحیى بن بكیر حدثنا اللیث عن عقیل عن ابن شهاب أخبرني عروة أَنَّ عائشة ﷺ أخبرته : أَنَّ رسول الله ﷺ خرج لیلة من جوف اللیل فصَلّى في المسجد وصَلّى رجال بصلاته فأصبح الناس فتحَدثوا فاجتمع أكثر منهم فصَلُّوا معه فأصبح

الناس فتحدثوا فكثر أهل المسجد من الليلة الثالثة فخرج رسول الله ﷺ فصلّى فصلُّوا بصلاته فلمّا كانت الليلة الرابعة عجز المسجد عن أهله حتى خرج لصلاة الصبح فلما قضى الفجر أقبل على الناس فتشهد ثم قال (أما بعد فإنه لم يخفَ عليَّ مكانكم ولكني خشيتُ أَنْ تفرض عليكم فتعجزوا عنها) . فتوفي رسول الله ﷺ والأمر على ذلك .

قال فى الهامش : قال ابن التين وغيره : استنبط عُمَرذلک من تقريرالنبى ﷺ مَنْ صَلّى معه فى تلک الليالى ، وإنْ كان كره ذلک لهم فَاِنّما كرهه خشية اَنْ يُفْرضَ عليهم ، وكان هذا هوالسِرُّ فى ايراد البخارى حديث عقب حديث عُمر، فَلَمّا مات رسول الله ﷺ حصل الامن من ذلک ، ورُجِّحَ عند عُمرذلک لما في الاختلاف من افتراق الكلمة ، ولاَنَّ الاجتماع علي واحدٍ انشط لكثير من المسلمين ، والى قول عُمر جنح الجمهور (يعنى فى افضلية التراويح بالجماعة) ،وعن مالک فى احدى الروايتين ، وابى يوسف وبعض الشافعية الصلاة في البيوت افضل ، عملاً بعموم قوله ﷺ [افضل الصلاة صلاة المرء فى بيته الا المكتوبة] وهو حديث صحيح اخرجه مسلم ، وبالغ الطحاوى اِنَّ صلاة التراويح بالجماعة واجبة على الكفاية ، وقال ابن بطال : قيام رمضان سنة لاَنَّ عُمَر اِنّما اخذه من فعل النبى ﷺ ، واِنّما تركه النبى ﷺ خشية الافتراض اهـ

قوله (اى قول القدورى) يستحب أن يجتمع الناس في شهر رمضان بعد العشاء فيصلي بهم إمامهم خمس ترويحات كل ترويحة بتسليمتين ويجلس بين كل ترويحتين مقدار ترويحة ثم يوتر بهم ذكر لفظ الاستحباب والأصح أنها سنة كذا روى الحسن عن أبي حنيفة رحمه الله لأنه واظب عليها الخلفاء الراشدون رضي الله عنهم والنبي عليه الصلاة والسلام بين العذر في تركه المواظبة وهو خشية أن تكتب علينا .

وقال ابن الهمام فى فتح القدير: التراويح جمع ترويحة أي ترويحة للنفس أي استراحة سميت نفس الأربع بها لاستلزامها شرعا ترويحة أي استراحة فلذا قال ويجلس بين كل ترويحتين مقدار ترويحة قوله والأصح أنها سنة لمواظبة الخلفاء الراشدين تغليب إذ لم يرد كلهم بل عمر وعثمان وعليا وهذا لأن ظاهر المنقول أن مبدأها من زمن عمر وهو ما عن عبدالرحمن بن القارىء قال خرجت مع عمر بن

الخطاب ﷺ ليلة في رمضان إلى المسجد فإذا الناس أوزاع متفرقون يصلي الرجل لنفسه ويصلي الرجل فيصلي بصلاته الرهط فقال عمر ﷺ إني أرى لو جمعت هؤلاء على قارىء واحد لكان أمثل ثم عزم فجمعهم إلى أبي بن كعب ثم خرجت معه ليلة أخرى والناس يصلون بصلاة قارئهم فقال عمر نعمت البدعة هذه والتي ينامون عنها أفضل يريد آخر الليل وكان الناس يقومون أوله رواه أصحاب السنن وصححه الترمذي وقال ﷺ عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين من بعدي وقال في حديث آخر افترض الله عليكم صيامه وسننت لكم قيامه وقد بين ﷺ العذر في تركها وهو خشية الإفتراض على ما قدمناه في باب الوتر من حديث ابن حبان فارجع إليه وفي الصحيحين عن عائشة رضي الله عنها أنه ﷺ صلى في المسجد فصلى بصلاته ناس ثم صلى من القابلة فكثر الناس ثم اجتمعوا من الثالثة فلم يخرج إليهم فلما أصبح قال قد رأيت الذي صنعتم فلم يمنعني من الخروج إليكم إلا أني خشيت أن تفرض عليكم وذلك في رمضان زاد البخاري فيه في كتاب الصوم فتوفي رسول الله ﷺ والأمر على ذلك وقدمنا في باب النوافل عن أبي سلمة بن عبدالرحمن سألت عائشة رضي الله عنها كيف كانت صلاة رسول الله ﷺ في رمضان فقالت ما كان يزيد في رمضان ولا غيره على إحدى عشرة ركعة الحديث

وأما ما روى ابن أبي شيبة في مصنفه والطبراني وعند البيهقي من حديث ابن عباس أنه ﷺ كان يصلي في رمضان عشرين ركعة سوى الوتر فضعيف بأبي شيبه إبراهيم بن عثمان جد الإمام أبي بكر بن أبي شيبة متفق عل ضعفه مع مخالفته للصحيح

نعم ثبتت العشرون من زمن عمر في الموطأ

عن يزيد بن رومان قال كان الناس يقومون في زمن عمر بن الخطاب بثلاث وعشرين ركعة وروى البيهقي في المعرفة عن السائب بن يزيد قال كنا نقوم في زمن عمر بن الخطاب ﷺ بعشرين ركعة والوتر قال النووي في الخلاصة إسناده صحيح وفي الموطأ رواية بإحدى عشرة وجمع بينهما بأنه وقع أولا ثم استقر الأمر على العشرين فإنه المتوارث فتحصل من هذا كله أن قيام رمضان سنة إحدى عشرة ركعة بالوتر في جماعة فعله ﷺ ثم تركه لعذر أفاد أنه لولا خشية ذلك لواظبت بكم ولا شك في تحقق

الأمن من ذلك بوفاته ﷺ فيكون سنة وكونها عشرين سنة الخلفاء الراشدين وقوله ﷺ عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين ندب إلى سننهم ولا يستلزم كون ذلك سنته إذ سنته بمواظبته بنفسه أو إلا لعذروبتقدير عدم ذلك العذر إنما استفدنا أنه كان يواظب على ما وقع منه وهو ما ذكرنا فتكون العشرون مستحبا وذلك القدر منها هو السنة كالأربع بعد العشاء مستحبة وركعتان منها هي السنة

وظاهر كلام المشايخ أن السنة عشرون ومقتضى الدليل ما قلنا فالأولى حينئذ ما هو عبارة القدورى من قوله يستحب لا ما ذكره المصنف فيه

.فتح القدير المجلد الاول الصفحة (٤٠٦ -٤٠٧) .

وقال صاحب المرقاة :اعلم اَنّه لم يُوَقّتْ رسول الله ﷺ فى التراويح عدداً مُعَيّناً بل لا يزيد فى رمضان ولا فى غيره على ثلاث عشرة ركعة ، لكن كان يطيل الركعات ، فَلَمّا جمعهم عُمَر ﷺ على اُبَىْ كان (اى اُبَى) يُصَلّى بهم عشرون ركعة ، ثُم يوتربثلاث ، وكان يخفف القراءة بقدرما زاد من الركعات ، وكان طائفة من السلف يقومون باربعين ركعة ،ويوترون بثلاث ، وأخرون بست وثلاثين و اوتروا بثلاث ، وهذا كُلُّه حسنٌ ، واَمّا ما روى ابن ابى شيبة وغيره اَنّه ﷺ كان يصلى فى رمضان عشرون ركعة سوى الوتر فضعيف ، نعم ثبت عشرون فى زمن عُمَر، ففى الموطا : كان الناس يقومون فى زمان عُمَر، وفيه ايضاً رواية باحدى عشرة ، وجمع بينهما بِاَنّه وقع اولاً ، ثُم استقرَ الامر على العشرون فَاِنه المتوارث .انتهى.

اوس دا هم معلومه شوه چې تراويح بدعت نه بلکه دَ رسول الله ﷺ یو سنت عمل وُو ، خوکله چې د هغه عذرپه وجه پاته شوي وي چې هغه عذرله رسول الله ﷺ څخه مورږ له مخه را نقل کړی ، نوکله چې هغه عذرساقط شو ، بیرته دَ خلفاء الراشدینو په زمانه کې شروع شوې ، البته د صدیق اکبر ﷺ په وخت کې نه د شروع شوی ځکه چې هلته وخت تردي اهموکارونونیولی وو .

او دا هم معلومه شوه چې هر هغه څه چې چا ورته بدعت حسنه ویلي دي هغه په شرعي معني بدعت نه بلکه سنت عمل دي ، خوصرف په معنی لغوي سره دَ بعضو

وجوهاتو له طريقه ورته بدعت ويلى شوي دي ، علامه محمد عمرسربازي پخلپه فتاوي منبع العلوم کې داسي ليکلي دي :

ايا چيزي به عنوان بدعت حسنه وجود دارد ؟ در صورت وجود كاملاً تشريح فرمائيد ، ودرمورد حديث [كل بدعة ضلالة]چه مي فرماييد ؟

الجواب باسم ملهم الصواب :بدعت در لغت هرشيئ جديد وتازه را مي گويند ، تعريف بدعت اصطلاحاً دررد المحتار چنين نوشته است .

ما احدث على خلاف الحق الملتقى عن رسول الله اوعمل او حال بنوع شبهة واستحسان و جعل ديناً قويماً وصراطاً مستقيماً .انتہى .

بدعت حسنه به اعتبارلغوى وصورى حسنه گفته مى شود ، وبه اعتبار حقيقى درست نيست ، بدعت كاملاً سيئه گفته ميشود ، در حديث [كل بدعة ضلالة]منظوربدعت شرعى وسيئه است اهـ فتاوى منبع العلوم ج (١) ص (٤٢٦)

اوتر دې لا هم ښه وضاحت په دې مسئله کې رئيس الاذکياء مولانا عبدالحي الدهلوى رحمه الله په خپل مشهور کتاب مجموع الفتاوى کي بعد له هغه چې له د څخه په دې عبارت سوال شوي دي او بيا ده جواب ورکړي دي ، نود هلته داسى ليکلي دي :

قال بعض الناس يجب على الخطيب اَنْ يترجم الخطبة العربية اِنْ المخاطبون اعاجم لا يفقهون العربية كلهم او بعضهم ، ثم علل هذه الدعوى بالعلل والادلة الى اَنْ قال فى الجواب : قال الله عزوجل ﴿اَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوْا لَهُمْ مِنَ الديْنِ مَا لَمْ يَاْذَنْ بِهِ الله﴾ الاية : فمن هرب الى شيءٍ ليقرب به الى الله من غيراَن يشرعه الله فقد شرع ما لم ياذن به الله مما حذرالرسول ﷺ اُمته –

او بيا ئې هغه احاديث ذکرکړي دي چې رسول الله ﷺ په رد دَ بدعت کې ويلي دي الى اَنْ قال :وفي الحديث الصحيح الذي رواه اهل السنن عن عرباض بن سارية عن النبى ﷺ قال [من يعيش منكم بعدى فسيرى اختلافاً كثيراً فعليكم بسُنتى وسنة الخلفاء الراشدين من بعدى ، تمسكوا بها ، وعضوا عليها بالنواجذ ، واياكم ومحدثات الامور فانّ كُلٌ بدعة ضلالة]

هذه قاعدة عظيمة عامة قد دلت عليه السنة والاجماع بعد ما شهد بها الله عز وجل فى القران العظيم لا يَحِلُّ لاحد اَنْ يقابل هذه القاعدة الجامعة الكلية عن رسول الله ﷺ وهى قوله [كُلُّ بدعة ضلالة] فَاِنَّ قصد التعميم المحيط ظاهر من رسول الله ﷺ بهذه الكلمة الجامعة فلا يعدل عن مقصوده ﷺ فالحديث دال على قبح جميع البدع من غيرتقسيم الى حسن وقبيح ، فالاصل اَنَّ الحديث باق على عمومه ، وما ثبت حسنه فليس من البدع ، فيبقى العموم محفوطاً لا خصوص فيه ، وما يَظُنُّ حسنه او يَتَرَدَدُ فى حسنه لا يصلحالمعارضة به ؛ لانه اِنْ ثبت انه حسن فلايكون بدعة ، والا فهو داخل فى العموم [اى عموم قوله عليه الصلوة والسلام كُلُّ بدعةٍ ضلالة]

او بيا پې دې بحث ته ادامه ورکړي ده ، او د دې موضوع په رابطه له مفصل بحث وروسته ئې داسي ويلي دي : ومن جوامع الكلم [[كل امرليس عليه امرنا فهو رد]] فهذه العبارة قضية كبري للشكل الاول تقول : هذا امرليس عليه امرالنبى ﷺ ، وكل امر ليس عليه امر النبى ﷺ فهو رد فهذا الامر رد – فلا يبقى فعل ولا قول ولا اعتقاد لم يشرع الا رُدَّ بهذ ا. مجموع الفتاوى ج (١) ص (١٤٢)

اونور هم نومړي مولانا صاحب پر دې موضوع پاته شوي دي ، که څوک د موضوع پوره وضاحت غواړي نو کولاي شوي چي نومړي کتاب ته رجوع وکړئ څوچې پوره وضاحت ترلاسه کړي.-خوکوم څه چې موږ دلته را نقل کړو ، له هغه څخه پوره وضاحت وشو . چې په داسي معني بدعت حسنه ګران دي چې د ربيع الاول د دولسمې لمانځل ځینی ثابت شي. که چېرته په خيرالقرون کې ورته یومثال ثابت نه شوو – [و دون اثباته خرط القتاد].

خوبيا هم که بعض دلائل د ثبوت ئې پيدا شي ، العلامه الشامی په ردالمحتار کې ويلي دي چې که يوشي د سنت اوبدعت په مابين کې دائر شي نو هغه شي پريښوول کيږي ، البته که يو شي په مابين دَ واجب او بدعت کې دائر شي نو بيا د علماؤ په هغه کښې اختلاف دي چې ايا پريښوول ئې ضروري دي ، اوکه کول ئې ضروري دي .

مطلب إذا تردد الحكم بين سنة وبدعة كان ترك السنة أولى قوله (وتركها أولى) لأنه إذا تردد الحكم بين سنة وبدعة كان ترك السنة راجحا على فعل البدعة مع أنه كان يمكنه التسوية قبل الشروع في الصلاة انتهى .رد المحتارج (١) ص (٤٧٥)

وفى موضع أخر: قلت لكن في القهستاني عن المضمرات أن الصحيح أنه لا يقعد على الثانية والثالثة لأنه مضطر بين ترك الواجب وإتيان البدعة والأول أولى من الثاني ثم قال لكن فيه اختلاف المشايخ ا هـ

وقال فى موضع أخر: فاما فى بدعة لا توجب الكفر فانه يجب التعزيربأيِّ وجهٍ يمكن اَنْ يمنع من ذلک فاِنْ لم يمكن بلا حبسٍ وضربٍ يجوز حبسه وضربه ،وكذا لو لم يمكن بلا سيف اِنْ كان رئيسهم ومقتداهم جاز قتله سياسة وامتناعاً ، والمبتدع لو له دلالة ودعوة للناس إلى بدعته ويتوهم منه أن ينشر البدعة وإن لم يحكم بكفره جاز للسلطان قتله سياسة وزجرا لأَنہٖ فساده أعلى وأعم حيث يؤثر في الدين والبدعة لو كانت كفرا يباح قتل أصحابها عاما ولو لم تكن كفرا يقتل معلمهم ورئيسهم زجرا وامتناعا اه [رد المحتارج (٣) ص (٣٢٥)]

وفى موضع أخر قلت لكن في القهستاني عن المضمرات أن الصحيح أنه لا يقعد على الثانية والثالثة لأنه مضطر بين ترك الواجب وإتيان البدعة والأول أولى من الثاني ثم قال لكن فيه اختلاف المشايخ ا هـ . وأقول يريد ما في الفتح ما صرحوا به في عدة كتب أن ما تردد بين البدعة والواجب يأتي به احتياطا بخلاف ما تردد بين البدعة والسنة انتهى

وقال فى موضع أخر: فى الاقتصارعلى ما ذكر من الوارد[اى على قول واضع الميت فى القبر: بسم الله وعلى ملة رسول الله]اشارة الى انه لا يسن الاذان عند ادخال الميت فى قبره كما هوالمعتاد الان ، وقد صرح ابن حجرفى فتاويه بانه بدعة ،وقال :ومن ظَنَّ انه سنة قياساً على ندبهما [اي الاذان والاقامة]للمولود الحاقاً لخاتمة الامربابتدائه فلم يصب اهـ

وقد صرح بعض علمائنا وغيرهم بكراهة المصافحة المعتادة عقب الصلوات مع اَنّ المصافحة سنة ، وما ذاک الا لكونها لم تؤثرفی خصوص هذا الموضع ، فالمواظبة عليها فيه توهم العوام بانها سنة فيه ، ولذ ا منعوا عن الاجتماع لصلوة الرغائب التی احدثها بعض المبتعدين ؛ لانها لم تؤثر علی هذه الكيفية فی تلک الليالي المخصوصة ، وان كانت الصلوة خيرموضوع ،انتهي [رد المحتارج (١) ص (٦٦٠)]

اوس د العلامه الشامي له دې تحقيقاتو معلومه شوه چي هغه دَ بدعت حسنه قائل نه دي ، ځکه چی دوه يا درې ځايه ده په تصريح سره ويلي دي ، چي هغه شي چی يو احتمال ئې د سنت وي ، خو په بل احتمال سره بدعت ګرزي د هغه شې پريښوول اولی او بهترکاردي ، البته که يو احتمال ئې دَ واجب وي او بل احتمال يې د بدعت وي نو بيا پکښې اختلاف دي ، نو هغه څه چې احتمال دَ سنت بيخې پکښې نه وي ، او بدعت پکښې يقيني وي ، نو بيا به هغه ته دی ښنګه حسن ووايي ؟ البته کوم تقسيم چي ده د بدعت و حسنه او سيئه ته کړي دي هغه بدعت په معنی لغوي سره دي ، ځکه چې ده هلته حواله پر بركلي ورکړې ده چې هغه په طريقه محمديه کې په دې خبرتصريح کړې ده ، چی دَ فقهاؤ کوم تقسيم دَ بدعت کړي دي هغه بدعت په معنی لغوي سره دي ، او په حديث شريف کې چي کوم بدعت ذکرشوي دي هغه بدعت په معنی شرعي سره دي ، او بدعت په معنی شرعي سره ټول ضلالت دي حسن نسته پکښې لکه ښنګه چې د حديث شريف له لفظه دَ کل هم داسې ښکاره کيږي ، او دَ العلامه الشامی دَ تقسيم الفاظ او حواله دا دي .

مطلب البدعة خمسة أقسام قوله (أي صاحب بدعة) أي محرمة وإلا فقد تكون واجبة كنصب الأدلة للرد على أهل الفرق الضالة وتعلم النحو المفهم للكتاب والسنة ومندوبة كإحداث نحو رباط ومدرسة وكل إحسان لم يكن في الصدر الأول ومكروهة كزخرفة المساجد ومباحة كالتوسع بلذيذ المآكل والمشارب والثياب كما في شرح الجامع الصغير للمناوي عن تهذيب النووي وبمثله في الطريقة المحمدية للبركلي. [رد المحتارج (١) ص (٤١٤)] المكتبه الحبيبيه

نو اوس که چیرته د العلامه الشامي دغه تقسیم پربدعت لغوي حمل شي نو بیا هیڅ مشکل نسته ، او د ده په دې کتاب کي چې هر چیرته دَ بدعت رد کړي دي ، نو مراد له هغه څخه بدعت په معني شرعي سره دي، او کوم څه چي ده بدعت حسنه بللي دي هغه بدعت په معني لغوي سره دي ، اوپه شریعت کې هغه ته سنت ویل کیږي لکه مدرسه جوړول وغیره ، دا ځکه چي دَ مدرسو ، او دَ نحوي اوصرفو ، او رد پر فرقو باطلو، او داسي نورو بعضو شیانو چي چا ورته بدعت حسنه ویلي دي ، نو دَ هغو تولو یا خو سنتیت موږ له مخه په دې رساله کې ثابت کي ، او دَ معتمدو کتابونو حوالې مو را نقل کړې ، او یا هغه شیان له قبیلې دَ عباداتو نه بلکه له قبیلې دَ عاداتو څخه دي چې هغه زموږ دَ بحث موضوع نه ده .نو دَ صاحب نشرالاوراق او د هغه ملګرو دَ ربیع الاول دولسمه نه خو بدعت عادي کې راځې او نه په بدعت حسنه کې ، بلکه خالص په بدعت سیئه کې حساب ده په شرط دَ دې که له انصافه کارواخستل شي ، او که چیرته خبره په تعصب باندی بناء شي ، نو بیا دَ تعصب له موږ سره بیخې سته نه .

وعبارة البرکلي کما نقلناها من قبل وهی هکذا : فانقیل : کیف التطبیق بین قول رسول الله ﷺ [کُلُ بدعة ضلالة وکُل ضلالة فی النار] ، وبین قول الفقهاء : اِنَّ البدعة قد تکون مُباحةً کاستعمال المنخل ، والمواظبة علی اکل لُبِّ الحنطة ، والشبع منه ، وقد تکون مستحبةً کبناء المنارة والمدارس ، وتصنیف الکُتُب ، بل قد تکون واجبةً ، کنظم الدلائل لرَدِّ شُبَهِ الملاحدة ونحوهم ، قلنا : للبدعة معنیان ، معنًی لغوِیٌ عامٌ وهو المحدث مطلقاً عادةً کان ، او عبادةً ، لاَنّها اسم من الابتداع بمعنی الاحداث ، کالرفعة من الارتفاع ، والخِلفة من الاختلاف ، وهذه هی المقسم فی عبارة الفقهاء ، یعنون بها ما احدث بعد الصدرالاول مطلقاً [ای سواء کان فی العبادة والدین او غیرذلک] ، ومعنًی شرعیٌ خاصٌ هو الزیادة فی الدین ، او النقصان منه الحادثان بعد الصحابة ، بغیراذن من الشارع ،لا قولاً ولافعلاً ، لا صراحةً ولا اشارةً ، فلا تتناول العادات اصلاً ، بل تقتصرعلی بعض الاعتقادات ، وبعض صُوَرالعبادات ، فهذه [ای البدعة فی الشرع] هی مراده ﷺ ، بدلیل قوله ﷺ [علیکم بسُنّتی وسنة الخلفاء الراشدین المهدیّین من

بعدی] ، وقوله ﷺ [انتم اعلم بأمردنياكم] ، وقوله ﷺ [من احدث فى امرنا هذا ما ليس منه فهورَدٌ] الحديث .

قال السيوطي فى الدرالمنثو ر::واخرج الحكيم الترمذي عن عطاف بن خالد قال : بلغنى اَنه لما نزل قوله : ﴿وَمَنْ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا اللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَى مَا فَعَلُوا﴾ الاية ، صاح ابليس بجنوده ، وحَثَا على رأ سه التراب ، ودعا بالويل والثبور حتى جاءته من كل بر وبحر، فقالوا : مالک يا سيدنا ؟ قال أية نزلت فى كتاب الله لا يَضُرُّ بعدها احداً من بنى أدم ذنب ، قالوا : وماهى ؟ فاخبرهم ، قالوا : نفتح لهم باب الاهواء فلا يتوبون ولايستغفرون ، ولا يروْنَ اِلاّ انهم على الحق ، فرضى منهم بذلک ، انتهى [الدرالمنثور ج (٢) ص (٣٠٨)]

وفى موضع أخر قال : اخرج ابويعلى عن ابى بكرعن النبى ﷺ قال : عليكم بلااله الا الله والاستغفار، فاكثروا منهما فاِنّ ابليس قال : اهلكتُ الناس بالذنوب ، واهلكونى بلا اله الا الله والاستغفار، فلما راَيْتُ ذلک اهلكتهم بالاهواء وهم يحسبون انهم مهتدون ، [الدرالمنثور . ج (٢) ص (٣٠٩)]

نواوس دَ جلال الدين السيوطى له دې منقوله عباراتو دا معلومه شوه چې دَ شيطان ترټولو بدترين جال چې خلق پکښې را ګرزوي هغه د بدعت جال دي ، چې د ده خيال دا وي چې زه ښه کارکوم ، خوهغه ترټولو بدکاروي هغه د بدعت په جال کي راتلل دي ، اوس دا هم مناسب ده چې دَ جلال الدين السيوطي رحمه الله دَ مختلفو اقوالو مطالعه وشي چې دى وچا ته په بدعت حسنه سره دَ عمل کولو اجازه ورکوي اوکه نه ؟ ځکه چي هغه په دې کتاب کي دَ بدعت. کومه تقبيح کړي ده ، نو له هغه څخه داسي معلوميږي چي دى د شيطان ترټولو بد فريب دا بولي چي يو څوک د خپلې هواء او خواهشاتو په تقاضا يوکار د عبادت په نيت وکړي ، خوهغه عبادت نه بلکه دَ شيطان يو دهوکه وي .

او بل جلال الدین السیوطي رحمه الله په الحاوي للفتاوي کې دَ ابن الحاج المالکی دَ المدخل تحقیق دَ دې مطلب دَ اثبات دَ پاره را نقل کړي دي ، او حال دا چې تاسې په دې رساله کې دَ المدخل دَ بعض عباراتو توضیحات ولیدل چې له هغوڅخه د دې مطلب نفي معلومیدله ، او دا رنګه صاحب دَ فتاوي حقانیې او نورو علماؤ هم دَ المدخل عبارات دَ دې مطلب پر نفي دلیل ګرزولي دي ، حتي چې ده صاحب المدخل دَ تحقیق خاتمه پردې خبره را غلې ده چې که دا عمل له ټولو رسمونو او رواجونو خالي شي ، فقط دَ خیرات کولو او ډوډي خوړلو دَ پاره خلق راټول شی ، او د خیرات ډوډی وخورې او بیرته ولاړشي لا هم دا عمل صحیح کارنه دي ځکه چې دا دَ سلفو عمل نه دي .

اما م رباني مجدد الف ثانی رحمه الله فرمایی چې بدعت حسنه نشته ، ټول سیئات دی ، او دی هلته د سنت د تابعداری او له بدعت څخه د خلاصی ترغیب ورکوی ، لکه چه دی وائی :

این فقیر درهیچ بدعتی ازین بدعتها حُسن ونورانیت مشاهده نمیکند ، جُزظلمت وکدورت احساس نمی نماید ، اګرفرضاً عمل مبتدع را امروز بواسطه ضُعف بصارت بطراوت ونضارت بینند فردا که حدید البصر ګردند دانند که جُز خسارت وندامت نتیجه نه داشت . انتهی باختصار کثیر .مکتوبات امام الربانی المجلد الاول الحصة الثالثة المکتوب السادس والثمانون والمائة صفحه (۷۱)من هذه الحصة .

اوهمدارنګه په عباراتو دَ رئیس الاذکیا ء مولانا محمد عبدالحي رحمة الله علیه کې دا خبره تیره شوه چې د رسول الله ﷺ دا حدیث [کُلُ بدعة ضلالة]قضیه موجبه کلیه ده ، او نقیض ئې باطل او کاذب دي ، چې هغه سالبه جزیه ده ، چې هغه داده [بعض البدعة لیس بضلالة] او په نقیضینو کی یو ضرور کاذب وي ، نو اوس دا خو نه شي کیدلاي چې دَ رسول الله ﷺ قول ته کاذب وویل شي ، پس نو ضرور نقیض ئې کاذب دي .، اوس نو هغه څه چې دَ رسول الله ﷺ په وخت کې او بیا دَ خلفاؤ الراشدین په وخت

کي ، اوبیا دَ صحابه کرامو په وخت کي هیڅ نه وي شوي ایا دې ته حسن ویل کیدلاي شوي ، اوس نو موږ قضاوت پخپله صاحب نشرالاوراق او د هغه ملګرو ته سپارو .چې دوئ څه قضاوت کوي ، او دَ میلاد په رابطه څه فیصله کوي .او دَ رئیس الاذکیاء مولانا محمد عبدالحي رحمه الله دَ کتاب عبارت موږ په مخ کي هم نقل کړي وو چې یوه حصه ئې په دې ډول ده

وفی الحدیث الصحیح الذي رواه اهل السنن عن عرباض بن ساریة عن النبی ﷺ قال [من یعیش منکم بعدی فسیری اختلافاً کثیراً فعلیکم بسُنتی وسنة الخلفاء الراشدین من بعدی ، تمسکوا بها ، وعضوا علیها بالنواجذ ، وایاکم ومحدثات الامور فانَ کُلُ بدعة ضلالة]

هذه قاعدة عظیمة عامة قد دلت علیه السنة والاجماع بعد ما شهد بها الله عز وجل فی القران العظیم لا یَحِلُ لاحد اَنْ یقابل هذه القاعدة الجامعة الکلیة عن رسول الله ﷺ وهی قوله [کُلُ بدعة ضلالة] فَاِنَ قصد التعمیم المحیط ظاهر من رسول الله ﷺ بهذه الکلمة الجامعة فلا یعدل عن مقصوده ﷺ ، انتهی

د بحث خلاصه

اوس موږ د دې ټول بحث خلاصه دا بیانه وو ، چی په دې مسئله [یعني دَ ربیع الاول دَ دولسمې ، او په بله اصطلاح دَ میلاد شپه ، او یا په بله اصطلاح عید میلاد النبی ﷺ] کي علماء پر درې ډلې وویشل شو ، یوه ډله علماء دا عمل مردود بولی ، هغه په دې وجه چي دا کار په خیرالقرون کې نه دي شوي ، او کوم کارچې په خیرالقرون کې نه وي شوي ، هغه کار په نیت دَ عبادت کول دا بدعت او حرام کار دي ، نو بناء پر قول د دې علماؤ خو میلاد ته دَ جواز لارنه شوه پیدا .

اودویمه ډله علماء هغه علماء دي چي دا عمل ئې خالي دَ یو تاریخي واقعې په شکل بیان کړي دي ، لکه حافظ ابوالفداء ابن کثیر چې دا مسئله په تاریخ البدایه والنهایه کي دا سي بیان کړي ده ، چې دا عمل مظفرالدین کوکري په سنه (٦٠٤)هـ کي اول واردَ موصل په ښار کي وکړي ، او دَ ابن کثیر له خبري اثبات دَ دې نه شي ثابتیدلاي ، ځکه بعضو علماؤ د ده پرکتاب تفسیرابن کثیرداسی حواله ورکړې ده چې ده هلته د دې عمل رد کړي دي ، اګر که دا حواله موږ پخپله نه ده پیدا کړي ځکه چې دَ ابن کثیر نسخې مختلفې دي ، بعضي په څلور ټوکونو کي او بعض په شپږ ټوکونو کي راځي ، نو کیدلي شي چي حوالې فرق ولري .

اودریمه ډله علماء هغه علماء دي چي د دې عمل قائل دي ، خو بدعت حسنه ئي بولي ، او د بدعت حسنه خو تاسي یوڅه حقیقت ولیدئ چي ایا دا عمل په بدعت حسنه کي راتلاي شوي او که نه ؟ خو بیا هم هغه څوک چي ثابت ئي بولي هغه د استحباب درجه ورکوي ، او تاسو دَ العلامه الشامي په عباراتو کي ولیدو چې دَ سنت او بدعت په مابین کي یوشي دائرشي ،نو ترک ئي اولى دي ، نو د مستحب عمل ترک خو په طریقه اولي سره اولى دي .

او که چیرته جائز هم شي نو بیا په داسي حال کي به جائز وي چي پر تارک ئي انکار ونه شي ، دانه چي پر تارک ئي د وهابي ټاپه ولګوي لکه چې په مخ کي د مفتی کفایت الله رحمه الله په عبارت کي تیر شو . او موږ هلته د ده د عبارت تتیمه داسي بیان کړي ده : او بیا په ص (٢١٤) کي یې داسي لیکلي دي : کوم څوک چي دا مسئلې د وهابیانو بولي ، هغه خو یا جاهلان دي ، او یا قصداً عوامو ته دهوکه ورکوي .

اوکه له انصافه کاروا خستل شي ، نو کوم څه چي موږ د دې مسئلې په رابطه را نقل کړو هغه ټول دَ مذاهبو والا دَ کتابونو په حواله سره وو ، بلکه اکثر ئې د حنفي مذهب د فتاواوو تحقیقات وو ، او خاص طور د رد المحتار عبارات مو د اثبات د پاره پیش کړو

خو بیا به هم له انصافه لرې خلق پر موږ نومان ږدي ، خو ځان به د ټولنې د پاره یو مطرح شخص بولي ، او د خلقو په سترګو کې به د خپل مقام د ساتلو د پاره خاورې ور اچوي ، خو زموږ پر الله ﷻ اعتماد دې چې الله تعالی څه کوي هغه به کیږي .

له یو عالم څخه د مولود شریف په رابطه سؤال شوئ دي ، او دَ سؤال په فقرو کې د دې محفل یو څه منکرات هم ذکر شوي دي ، او بیا دې مولوي صاحب یا مولانا صاحبانو داسې جواب ورکړئ دي ،

جواب : اول باید د مولد شریف دَ محفل جوړولو حکم بیان کړو ، قطع نظر له بدعتو او محرماتو څخه ، او هغه حکم په دې ډول دي ، د مولود شریف محفل که څه هم بدعت دي ، ځکه چې د صحابه کرامو [رضوان الله علیهم اجمعین] په عصر او زمانه کې نه وو ، لیکن ډیر داسي بدعتونه شته چې هغه حسنه دي ، او ټولو علماؤ د هغه پرحسن اتفاق کړي دي ، لکه مدرسې خانقاه ګاني او داسي نور ، نو مولود شریف هم بدعت حسنه دي ، دا ځکه چې ډیر زیات فوائد پکښې دي ،

اول (۱): ذکر د حضرت مبارک ﷺ او له هغه سره د محبت اظهار_ اودویم (۲): درود شریف ویل او هم دارنګه صدقات او نور اذکار - او دریم (۳):وعظ کول خلقوته او هغوی د ده مبارک معجزاتو او ارشاداتو ته متوجه کول چې د ډیرو خلقو د محبت یا زیادت محبت باعث ګرزي ، او څلورم (٤):شیطان او دا راز نور کفارپوره کوشش کوي چې د خلقو محبت له خپل اسلام او له خپل نبی کریم ﷺ سره کم شي ، یا ورک شي نعوذ بالله ، او په دې عمل سره د دوئ کوششونه ناکام کیږي ، او دا راز نورې ډیرې فائدې دي پکښې ،

ابو لهب چې ډیر لوئ کافر وو ، او د اسلام لوئ دښمن وو ، حضرت عباس رضي الله تعالي عنه په خوب ولیدئ حال پوښتنه ئي ځیني وکړه ، نو ده وویل چې د هری دوشنبې په شپه عذاب را باندې سپک وي ، او د دوو ګوتو له مابین څخه اوبه زبیښم ، او دا په دي وجه چې کله ثویبه مینځي چې ماته د نبی ﷺ د ولادت بشارت راکړئ ، نو ما له ډیرې خوشحالئ څخه هغه د مینځه ازاده کړه ،

نو چي د کافر دا حال وي ، مسلمان چې د ده مبارک ﷺ په ولادت د خوشحالئ اظهار وکړي نو څه حال به ئي وي ، خو دا ټول هغه وخت کیدي شي ،چي بدعتونه او غیر اسلامي عملونه په دي محفل کي خلط نه وي .....الخ

د مولوي صاحب د جواب خلاصه دوه شیان جوړیږي ، یو د ابولهب په خوب لیدل ، اوبل دا چي دا عمل بدعت حسنه اوپر فوائدو مشتمل یوبدعت دي ، نو اوس به موږ د مولوي صاحب پردې جواب له علمي نګاه یوڅه نظروکړو ، چې ایا د ابولهب د خوب واقعه ټولو علماؤ ته د قبول وړ ده ، او که نه ؟ او ایا له بدعت حسنه سره چي فوائد ملګري وي هغو فوائدو ته اعتبار سته اوکه نه ؟ او ایا داسي بدعت هم سته چي چا پکښې د یو فائدې لحاظ نه وي کړي ؟ نو کله چي هم دا خبرې جواب شي نو د مولوي صاحب د جواب به پوره وضاحت وشي ،

